هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرلـه پسـې گـنـه « ۲۳۳ » اوم کـــال « ۳۵ » گـنـه
دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کـــال دقــوس « ٤ » د ۱٤۱۲ هـ ق
کال جمادی الاول « ۱۹ » اود ۱۹۹۱ میلادی کال دنومبر « ۲۵ »

PROPERTY OF ACKU

محترم انجنیر احمد شاه معاون اتحاداسلامي افغانستان ووزیرمخابرات حکومت مؤقت اسلامی مجاهدین افغانستان ازاندونیزیا به پشاور بازگشت

محترم انجنیر احمدشاه وزیر مخابرات حکومت مؤقت مجاهدین بنابر دعوت ازطرف مؤتمر اسلامي در کنفرانس وزراي مخابرات کشور هاي اسلامي دراند ونیزیا شرکت نموده بود به پشاور بازگشتند - ایشان درین کنفرانس که ازتاریخ ٥ - الي ۸ نومبر دوام نمود ، حاضرین درکنفرانس را درجریان قضایاي جهاد افغانستان قرارداده و وعده کمك کشورهاي اسلامي را دربخش باز سازي پست و تیلیفون درافغانستان اسلامي دریافت داشتند - این کنفرانس حسب معمول درشهرباند ونگ که شهرت سیاسي دارد و اولین کنفرانس کشورهاي آسیا و افریقا درسال ۱۹۵۰ درآن برگذارشده است انعقاد یافت. شهرباندونگ به اندازه، دوصد کیلومتر درغرب جاکارتاپایتخت اندونیزیا موقعیت دارد و نفوس آن به دو ملیون میرسد هیئت مجاهدین ازفابریکه هاي طیاره سازي و تیلیفون سازي درین شهر دیدن نموده وبعداً عازم جاکارتا پایتخت اندونیزیا گردید ودرآن جا با یك عده احزاب اسلامي ازقبیل حزب الدعوة الاسلامیة که سرپرستي آن را دکتور محمد ناصر که

صفحه ٤

دافغانســتان داسلامی اتحاد مستحقو منسوبینوتـه دمیانوالی په کمپ کښی دعضویت کارتونه وویشل شول

داتحاد اسلامي افغانســتان منسوبینو ته دعضویت دکارتونو دویشلو په لړ کښي تېره پنجشنبه دعقرب په دیرشمه نېټه دتنظیم او تربیت دکمیسیون په اهتمام دمیاوالي په کمپ کښي یوه درنه غونډه جوړه شوي وه . غونډه دنهو بجو په شاوخوا کښي دقرآن کریم دځو مبارکو آیتونو په لوستلو سره پیل اوبیا داتحاد اسلامي افغانستان دامنیت دچارو رئیس محترم سید عمر منیب راغلو کسانو ته وینا وکړه اودهغي په ترځ کښي یې حاضرینو تـه دغونډي اهداف او داسلامي تحریك په منسوبینو کښي دتعارف او پیوندګلوي اصول تشریح کړل ویې ویل له دغومجالسو نه هدف دمسلمانانو یو بل سره پیوندګلوي ده اوهمدا دتعاون او نصیحت اساس او بنسټ دي دغه تعارف دټولو مسلمانانو او بالخصوص داسلامي تحریك منسوبینو ته ډیر ضروري دي . دامنیتي چارو رئیس دامر بالمعروف اونهي عن المنکر په هکله وویل چي دا یواځي دعالم دنده نه بلکي داد هر مسلمان دنده ده چي دخپل توان او استطاعت په اندازي سره دغه وجیبه

خلورم مخ

ولسوالی دولت آبادبرخلاف ادعای رژیم همچنان دردست مجاهدین میباشد

گزارش یك منبع خبري به نقل از راپورمخابروي از ولایت بلخ در سرحد روسیه حاکیست ، ولسوالي دولت آباد که ازشانزده روز قبل به تصرف مجاهدین درآمده است ، تلاش قواي رژیم براي اشغال مجدد آن مثمر ثمره نشده است .

طبق راپور براي تصرف دوباره این ولسوالي حملات قواي بزرگ رژیم که برهبري جمعه احك قوماندان اوپراتیفي سمت شمال ، جنرال مومن قوماندان گارد خاص لواي هفت ، تاج محمد رئیس خاد ولایت بلخ و توریالي معاون ریاست خاد ولایت بلخ به حملات شدیدي تحت چترهوائي ادامه داده ولي تاکنون موفق به اشغال یك وجب از خاك این ولسوالي نشده است .

راپور مي افزاید : درین حملات ملیشه هاي بدنام رشید دوستم که از مزارشریف آورده شده و همچنان قواي مجهزي که برهبري لوي درستیز ورئیس امور سیاسي وزارت دفاع ازکابل انتقال یافته سهم اساسي دارند و درمقابل مقاومت مجاهدین باشدت ادامه دارد .

بقرار راپور ، درین حملات که ازقواي مختلف هوائي و زمیني استفاده

صفحه چهار

یك عضو شوراي عالي اتحاد شوروي در محضرهیئت مجاهدین به دین مبین اسلام مشرف گردید

نیکولایویچ عضو شوراي عالي روسیه ، عضوکمیته، شوراي عالي درامور جوانان و دوکتور علوم درضیافت شب ۲۲ عقرب که ازطرف سفارت پاکستان درماسکو براي هیئت مجاهدین ترتیب یافته بود دربرابرهیئت مجاهدین کلمه، طیبه و کلمه، شهادت را بزبان آورده ، مسلمان شد .

نامبرده طي مصاحبه اش با نماینده، اعزامي (میدیا) گفت که انگیزه، محبت و علاقه اش به دین اسلام سه چیز است :

۱ - فرموده هاي پیامبر اسلام که مطابق به خواست هرعصروزمان وهر گروه ازبشریت است ، درحالیکه در ادیان دیگر انحرافاتي پدید آمده است

۲ - طي اقامت درافغانستان به فامیلي برخورده است که بشمول مادر بیش از ده نفر اعضاي فامیل اش دراثر جنگ معیوب وعلیل گردیده بود که این رویداد بالاي روحیاتش تأثیر بس عجیبي نموده و جز پناه بردن به صبر و قضا، و قدر خداوندي که جز عقاید اسلام اند هیچ عامل دیگر به اعصاب وروانش آرامش نه بخشید .

۳ - مطالعات شخصي خودش در باره، اسلام ، فرموده هاي پیامبر اسلام و مقارنه، اسلام با ادیان دیگر .

درضیافت یاد شده برعلاوه هیئت مجاهدین ، اشرف قاضي سفیر

صفحه چهار

مسلمانان سنجک یوکوسلاویا خواهان استقلال شدند

طرف دوماه آینده ، مسلمانان منطقه « سنجك » یوگوسلاویا دولت مستقل تشکیل میدهند .

این موضوع را « راسیم لیسیایچ» رئیس حزب مسلمانان یوگوسلاویا فرع « سنجك » دریك مصاحبه، مطبوعاتی اعلام داشت .

وی گفت این نتیجه طبیعی یك ریفراندم است که براساس آن اکثریت رأی دهندگان خواستار خود مختاری شده اند .

دفلسطین مسلمانو خلکو دبیت المقدس ترازادی پوري دخپل اسلامي پاڅون په تداوم باندې ټینګاروکړ

دفلسطین مسلمانانو دجمعي په ورځ دفلسطین په نیول شویو خاورو کښي دجمعي دلمانځه له اداکولو نه وروسته دېراخو مظاهرو په کولو سره دبیت المقدس تر آزادي پوري دفلسطیني ملت داسلامي پاڅون پرتداوم باندې ټینګار وکړ . له بلې خوا دفلسطین ګن شمیر مسلمان ځوانان دغزې ښار دسیدهاشم جومات په شاه خوا کښي دخپل ځواك دښودني له پاره په رسم ګذشت (پریډ) تیرشول خو صهیونستي قواؤ په هغوي وحشیانه حمله وکړه او څو تنه یې ژوبل کړل .

شماکوشش نمائید که پاسداران حریم مقدس اسلام ومصدرخدمت به امت مسلمه شوید

انجنیر احمدشاه

روز شنبه تاریخ ۲ قوس محفل شکوهمندي بمناسبت توزیع شهادتنامه جماعت کشافي معهد حراء اسلامي در مقر آن معهد برگزار گردید .

درین محفل که بیش از پنجصد نفر از معلمین معهد و مهمانان انصار اشتراك ورزیده بودند ، با تلاوت آیت چند از کلام الله مجید آغاز گردید .

در آغاز محفل محترم انجنیر احمدشاه معاون اتحاد اسلامی و استاد فاکولته انجنیري پوهنتون دعوت وجهاد بیانیه عالمانه ایراد نموده ، وي در قسمتي از سخنان شان گفتند : شما فرزندان امروز و سرنوشت ساز آینده کشور هستید و از این فرصت استفاده اعظمي نمائید و وقت گرانبهاي خودرا هدر ازدست ندهید.

وي درأخیر گفت : شما که چراغ امید استقلال هستید در درس هاي خود کوشش نمائید تا پاسداران حریم معرکه اسلامي و مصدر خدمت به ملت اسلامي خود شوید .

محفل ساعت ٤ عصر با توزیع شهادتنامه توسط انجنیر احمد شاه و ابوحفض مدیر لجنة الدعوة الاسلامیة به پایان رسید .

په بلخ ولایت کښې دلاسپوڅي رژیم یو لوی برید دمجاهدینو دمقاومت په نتیجه کې په شاوتمبول شو

میډیا ته یو رسیدلي رپوټ په اساس مجاهدینو دعقرب دمیاشتي په ۲٦ نیټه دمزارشریف دښار په شمالي خوا ددولت آباد په آزاده ولسوالي باندي کومه چي مجاهدینو لس ورځي مخکښي نیولي وه دکابل رژیم دقواؤ یوه لویه تعرضي حمله په شاتمبولي او هم یې یوه جټ الوتکه دبمباري په وخت کښي دهوائي ضد وسلو دډزو په واسطه دمزارشریف بالاحصار سره نژدي رانسکوره کړیده .

درپوټ مطابق پدغه پیښه کښي دالوتکي پیلوټ وژل شوي او الوتکه داور لمبه شویده .

دخبر ځاي په قول مجاهدینو پدغه څلور ورځني جګړه کښي دکمونیستي رژیم دقواؤ څخه (٦۰) تنه ملیشه اوعسکر وژلي اوبیا ژوبل کړي دي اوهم یوه اندازه مهمات او وسلي یې په ولجه نیولي دي .

خبر ځاي په یوبل رپوټ کي زیاتوي چي مجاهدینو دعقرب دمیاشتي په ۲۵ نیټه ددولت آباد دجنگ په موقع دبلې خوا نه دمزارشریف دښاري کمر بند په صفدر علي نومي پوسته باندي په راکټونو سره حمله وکړه چي په نتیجه کي دیوشمیر ملیشه ؤ په وژلو سره پوسته تخریب ، یوه عراده ټانك داور لمبه شوي او دوه تنه ملیشه یې ديوي ماشیندارې اوینځه میله کلاشینکوفونو سره نیولي دي .

څلورم مخ

بطرس غالي دملګرو ملتونو دسرمنشی په توګه وټاکل شو

(نیویارك) « ٦۹ » کلن ډاکټر بطرس غالي چي یو قبطي عیسائي دي د ملګرو ملتونو دنوي سرمنشي په توګه وټاکل شو .

ویل کیږي چي غالي به دراتلونکي نوي کال د جنوري په میاشت کښي دملګرو ملتونو د سرمنشي په حیث دکوئیار پرځاي په خپلي وظیفي پیل وکړي .

نوموړي د ۱۹۷۷ څخه تر ۱۹۹۱ کلونو پوري دمصردبهرنیو چارو دوزیر په توګه وظیفه سرته رسولي ده .

د خبرونو له مخي د رأیه ګیري په وخت کښي ده یوولس رأي ګټلي دي اومقابلتاً د زیمبابوي دبهرنیو چارو وزیر برنارډ چي د غالي مقابلي ته ولاړ ؤ (۷) رأئي ترلاسه کړي دي .

دلغمان په ولایت کی دمزدوررژیم یوه پوسته فتح شوه

د لغمان ولایت نه یوی جهادی منبع خبر راکړ چی : ښیرېك قرارګاه پوری اړوند د میاجی صاحب د جبهی خدای پالو مجاهدینو دعقرب د میاشتی په «۲۸» شپه د مزدور رژیم په پوستو باندی چی په څېرو اوپاچا خیلو کی موقعیت لری . اتلانه بریدونه وکړل چی په نتیجه کښې د پاچاخیلو پوسته دمجاهدینو په لاس فتح اودهغی له افرادوڅخه څلور تنه په هلاکت ورسیدل .

خبرځای زیاتوی چی ددغو خونړیو نښتو په ترځ کی یو میل پیکا ، دوه ملیه وسط راکټ اوشپږ میله کلاشینکوف مجاهدینوته دغنیمت په توګه په لاس ورغلی دی اوهم د مجاهدینو څخه یوتن ټپی شوی دی .

درولایـت هلمند ۳۰ تـن ازملیشه هـاي رژیم کابل به سرکردگی عبدالاحد « کچك » به مجاهدین تسلیم شدند

راپور واصله ازولایت هلمند حاکیست که بتاریخ ۲۸ عقرب ۳۰ تن از ملیشه هاي رژیم کابل به سرکردگي آمر عبدالاحد (کچك) درولایت مذکور به مجاهدین تسلیم شدند .

گزارش مي افزاید که افراد مذکور دوعراده لاري هشت سلندره ، یك ضرب توپ ۸۲ ملي متري ، یك میل زیکویك ، یك میل ماشیندار ثقیل و ۳۰ میل کلاشینکوف بامقداري زیاد مهمات نظامي به مجاهدین تسلیم نموده اند.

طبق گزارش ، عساکر وملیشه هاي مذکور بادرك حقانیت جهاد وبیهودگي خدمت دررژیم کمونیست کابل به مجاهدین پیوسته اند .

لازم به تذکر است که بدنبال کودتاي ناکام در روسیه وازهم پاشیدن امپراطوري کمونیزم تاکنون صدها ملیشه مسلح وغیر مسلح باخانواده ها وقوماندانان شان سلاح بزمین گذاشته به مجاهدین تسلیم شده وسلسله تسلیمي ملیشه ها دربسیاري نقاط کشور همچنان ادامه دارد .

له برما څخه هره ورځ ۲۰۰ مسلماني کورنۍ بنګلدیش ته هجرت کوی

ډاکه - دنومبر ۲۲

د بنګلدیش دبهرنیو چارو وزیر مستفیض الرحمن دجمعی په ورځ د یوه دری ورځنی سفرله پاره د برما مرکز «رنګون» ته ورسیدتوخود برماداکمنانوسره دهغومسلمانانو په هکله خبری وکړی کوم چی ددغه هیواد نه په ظلم اوجبر سره په هجرت کولو مجبور شوی دی .

له برما څخه د مسلمانانو دمهاجرت سلسله دوام لری او تقریباً هره ورځ دوه سوه کورنۍ بنګلدیش ته هجرت کوی .

دبنګلدیش حکومت دبرمادمسلمانانو پرخلاف دروان ظلم اوتشددپرخلاف په وازکومی خپل غږندی پورته کړی .

په کندز ولایت کښې دمزدور رژیم یوتن مشهورقوماندان په هلاکت ورسیده

په پیښور کښي دمجاهدینو خبرځاي میډیا ته رپوټ ورکړي چي دعقرب دمیاشتي په ۲۵ نیټه د «دوران » په نوم دکابل رژیم دملیشه ؤ یو مشهور قوماندان دکندز ولایت په لومړي امنیتي کنډك کي دمجاهدینو دیوه ځاي په ځاي شوي مین په چاودنه کښي وژل شویدي .

څلورم مخ

انتشار اولین قرآن مجید با ترجمه آذری در باکو

اولین چاپ قرآن مجید با ترجمه، آذربایجاني اخیراً درباکومنتشرشد.

به گزارش خبرگزاري رسمي آذربایجان ، این قرآنکریم تحت نظارت اداره، دیني ماوراء قفقاز وبوسیله، «ضیاء بنیاداف» و «محمدعلي اوف» استادان دانشگاه باکو ترجمه شده است .

مصطفي زاده مدیر مؤسسه آذر نشر ، ناشر این قرآنکریم گفت : بهمراه چاپ قرآن مجید اولین چاپ کتاب « اسلام درقفقازین » و تفسیر قرآن مجید تالیف شیخ «شکور پاشازاده » رئیس اداره دین ماوراء قفقاز به مشتاقان دین مبین اسلام تقدیم شده است .

هفته‌نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر ارمان اتحاد اسلامی افغانستان

د امتیاز خاوند : د افغانستان اسلامی اتحاد

د تأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال د عقرب میاشت

خپرونکې اداره : د دعوت اوارشاد فرهنګي څانګه

سرمقاله

دبریالیتوب راز په صبر او ثبات کښې دی

د هدفمندو مجاهدینو د بریالیتوب له رازونو څخه دیرمهم راز صبر اوثبات دي چې دقرآن کریم اونبوي ارشاداتو په لړکښې په پوره صراحت سره دهغه توصیه شوې ده . مؤمن بندګان چې هرڅومره له ازمویښو سره مخامخ کیږي نه بوازې داچې همت، جرئت اوحوصله نه بایلي بلکې د بریالیتوب امیدونه یې په زړونوکښې لازیات ځپانده کیږي اوپه دې باندې یې یقین اوباور لاپسې محکم او پخیږي چې همدا د بری منزل ته د رسیدو وروښتې پړاؤ دي .

داحزاب په مشهوره جګړه کښې چې دهجرت دپنځم کال د شوال د میاشتې په وروستیو اود ذي قعدې په لومړیو ورځو کښې واقع شوې ده په قریشو سربیره ټولو کفري ډلو لاسونه سره یوکړل او لږترلږه دولس زره مجهز کفري لښکر په مدینه باندې یرغل وکړ اوحالات دومره سخت وو چې مسلمانانو ددفاع اوددښمنانو د مختنیوي په خاطر په هغې خوا کښې چې ددښمن پوځ د یرغل له پاره مساعده سکاریدله د دری زرو ګزو په اوږدوالي ، پنځه ګزه ژور او پنځه ګزه پلن خندق وکینده ، ددې محاصرې په دوران کښې پرمسلمانانو لوږه هم راغله ، دخپلوکورنیو اوماشومانو په حال هم اندیښمن وو خونه یوازې داچې همت یې ونه بایله بلکې داټولې سختې یې د بریالیتوب رازونه وګڼل ویې ویل : « واهغه څه دي چې الله اورسول له موږ سره دهغه وعده کړې ده » مطلب یې هغه الهي سنت ؤ چې د سوره بقره په ۲۱٤ ایت کښې په دې مفهوم وړاندې صراحت شوې دي :

« ایا تاسې ګومان کړی دې چې تاسې به جنت ته داخل شئ په داسې حال کښې چې لاترااوسه له هغو حالاتوسره نه یئ مخامخ شوي چې ستاسې پخوانې ورسره مخامخ شوي وو ، هغوته اَفتونه اومصیبتونه ورسیدل اوهغوی دومره ولړزول شول چې رسول اودهغه ملګري فریاد کوي وائي د الله نصرت به کله راځي ! زیري دربانډي چې د الله نصرت نژدې دي » .

هو ، دا د الله تعالی هغه سنت دي چې دهغه پرمحك باندې هره هغه ډله ازمویله کیږي چې دحق له پاره پاڅون کوي . د لارې په اوږدوکښې له راز راز کړاوونو ، غمونو اومصیبتونو سره مخامخ کیږي ، تهدیدیږي ، تبعیدیږي ، محرومیږي خو همدا په حقیقت کښې د بری اونصرت وخت وي .

د خدای په لارکښې جهاد له غوسې اوحوس نه ډکه منهو بده چې وریپسې اوږد سکوت اوسکون راشي نه د مادیاتو پخاطر جګړه ده چې دهغو په ترلاسه کیدو سره پای ته ورسیږي نه د قومي اوقبیلوي تعصب له مخې د هغې لانجې نوم دي چې پریوی قبیلې باندې د بلې سیالې قبیلې په غالبیدو سره اواریږي ، نه دهغو په قدرت مینو پراخیتیا غوښتونکو خلکو مبارزه ده چې د تخت اوتاج له خپلولو وروسته نور جنګیدل ورته لیونتوب اوحماقت ښکاره شي بلکې فی سبیل الله جهاد بندګي ده ، د ټول عمر بندګي ، د قیامت تروورځې پورې همیشنۍ بندګي ، ترڅو چې دالمکه اودا اسمان وي ، مسلمان د ځمکې پرمخ میشته اوودان وي تود خدای د لارې جهاد به بې توقفه روان وي اودجهاد دسترې وجیبې چلوونکي به صادقان ، صابران اوفعال اومتحرك مؤمنان وي ، هغوی چې له خپل خدای سره یې وعده اوتعهد کښې ریښتوني وي ، د لوړ هدف خاوندان وي ، د خدای بندګانوته د خدای ددین د رسولو د لوی امانت ساتندویان وي . په اخرت مین اوددنیا له خوندونوڅخه بې پرواوي نه هغه کسان چې د ایمان اویقین تله یې سپکه وي ، د فسق اوفجور له چارو څخه خوند اخلي اوله خپلو ټولو منډو تررو نه یې هدف اومقصد د دنیوی فاني ژوندانه سینګارول وي ، د جهاد په سنګرولو اوډګرونو کښې دداسې خلکو وجود مفید نه بلکې مضردي .

دجهاد د بریالیتوب اوپیاوړتیا لپاره رمزونه اورازونه شته چې وجود یې خورا ضروري اولازمي دي .

د ایمان قوت ضروري شي دی ، په ایمان معمور زړه په کاردی ، په الله باندې زور اویوخ یقین چې هغه په هرڅه باندې قادردي ، هغه له مجاهدینو سره په دنیا کښې د بری اونصرت وعده کړېده اوپه اخرت کښې د جنت اودیدار . پدغسې پاخه ایمان باندې د معمور زړه خاوند که پخپلو سترګو مرګ وینې هم خو په منډه منډه اوپه مینه مینه وړاندې ورځي اوهیڅ ډول ویره اوترهه یې په زړه کښې ځای نشي نیولای .

الله تعالی د سوره الفتح په (۱۸-۱۹) لمبر آیتونوکښې فرمائي :

« الله له مؤمنانو څخه راضي شو کله چې هغوی ترونې لاندې له تاسره بیعت کاؤ ، دهغوی د زړونو حال خدای ته معلوم ؤ له دې امله یې پرهغوی باندې اطمینان نازل کړ اوهغوی ته یې په انعام کښې نژدې فتحه ورکړه اودولجې دیرزیات مالونه یې ورکړل چې هغوی به یې ډیر ژر ترلاسه کړي . الله برلاسی اوحکمت والادي » .

د سوره آل عمران په (۱۲۵) ایت کښې فرمائي : « بیشکه که تاسې صبر وکړئ اوله الله څخه ووېریږئ نوپه کومه شیبه کښې چې دښمنان دربانډې یرغل کړي سمدستي به ستاسې پروردګار د پنځوزرو نښانه دارو پرښتو په وسیله ستاسې مرسته وکړي » .

راه کدام است؟

بقلم استاذ سید قطب
ترجمه : عبدالحق « عتید »

درچنین فرصتی یقینم روز بروز به این عقیده افزوده می رود که این امت هرگز شخصیت کسب نخواهد کرد تا آنکه روح واندیشه وافکار وي تربیت درست نیافته است . وتاآنکه هر فرد از افراد آن در تربیت گاه آرام وثابت ودارای اهداف معین آن تربیه نگردد . وتاآن وقتیکه هر فرد این امت در مهد آن شخصیت نیرومند دارای عقیده، محکم واسلوب روشن وضمیر بیدار را درخود احراز نه نماید .

وباگذشت هر روز اعتماد و یقینم را ازین حرکت های ملي وشعار های گوش خراش آنها که گاه به طغیان می آید وزمانی به خاموش می گراید ، ازدست میدهم .

من به این ملت بخصوص ملت مصر سخت اعتماد دارم ، اما اوضاع نابسامان که این ملت را دراحاطه، خود فرو برده است ، اورا نمی گذارد که خصوصیت های نیك خودرا تبارز دهد ، زیرا صد ها نوع مرض درکیان این ملت جاگرفته است .

به این دلیل لازم می آید تا این ملت بصورت درست زیر تربیه گرفته شود تاخصوصیت های طبیعي ومثبت خود را بار آورد .

اوضاع این ملت وظروف نابسامان آن سخت دشوار وطاقت فرسا است . واین ملت به هزینه، بزرگ ازقوت ونیرو ضرورت دارد تا دربرابر این اوضاع رقت بار ایستادگي ومقاومت نماید . وبرعلیه آن به مبارزه بپردازد تابدان پیروزي یابد .

اکنون ملت مسلمان مصر فاقد چنین قوت ونیرومندي است ، زیرا وي دراوضاع رقت بار بسر مي برد که نمیتواند داراي چنین توانائي باشد . هم چنان این ملت پاك نهاد ، ودارای خصوصیت اصیل عالي وبرتر ، داخل چنان حلقه بیکاره شده است که نمیتواند از داخل آن با این اوضاع رقت بار ومرگ آفرین به مبارزه پردازد ، اما این اوضاع به وي اجازه آن را نمیدهد تا به چنین قوه دست یابد . درینجاست که نقش واهمیت تربیه، طبیعي وذاتي درمهد خاص که زمام مقاومت اجتماع را بدست گیرد مطرح میشود ، واجتماع درین شرایط نیز بدترین عامل دیگریست که دامنگیراین ملت شده است .

عامل کشنده ، عامل خورد کننده ، اما درچوکات خاص ، اما درینجا تربیه درست وسالم وجود دارد ، تربیه که همه عوامل نیك وشوده را دربرگرفته وهمه، عناصر نیرو وقوت را درخود جمع نموده است ، ودراین کانون فرد آهسته آهسته خود را درمي یابد ، وبادیگران یکجا مي شود ، آنهائیکه چون اونیز عین شعور واحساس را دارند ، ودرنتیجه رفته رفته یك تکتل را تشکیل میدهند تا به ضد اوضاع نابسامان به مبارزه برخیزند وبرفشار اجتماع غالب آیند .

درچنین فرصتي است که عناصر مقاومت که اجتماع نتواند آنرا خورد سازد ، وشرایط واوضاع نتواند آنرا مهار کند سربکشد ، زیرا این عناصر همه باهم پیوند مشترك دارند ، وهمه باهم داراي یك هدف ویك شیوه، اند .

پیرامون هر اندیشه، نیك وهرمبدأ اصیل وبا ارزش ، کرمهاي زیادي جا گرفته است ، بسان کرمهاي زالو ... این امر بخاطرآنکه این ملت تربیه سالم وثابت را که بتواند اهداف اورا بصورت واضح وروشن درضمیر آن جلوه دهد فرانگرفته ، زیرا این ملت هنوزاین کرمها را در زیر پاي خود نسابیده است ؛ تا افکار عالي وارزشمند ومبادي بزرگ وقیمت دار را دروي زنده سازد ، ونه ازموقف پایمردي وثبات هرزه گویان را خورد نموده ، ونه منفعت جویان را درلحظات ایثار وفداکاري آزموده است .

زیرا گندیدگي ونجاست ازخصوصیت طبیعي این کرمهاي زالواست ، واین کرمها هیچ چیزي را نمي گذارند باطبیعت پاك که دارد پاك ونظیف بماند ، آنها مقدسات را همه گندیده سازند ، وهمت هاي عالي را خورد گردانند ، وهمه حرمات رازشت و ناچیز جلوه دهند ، درچنین حالتي که انسان بسوي اهداف عالي وبرتر گام برمیدارد آیا امکان دارد که باگذاشتن پاي خویش برابن کثافات

وگندیدگي ها به آن اهداف نایل گردد ؟ وآیامي تواند به این اهداف خطیر سیرکند ودرحالیکه خود به قهقرا، مي رود .

بطورمثال درین روزها مبارزه، ملي درجنگ آزادیخواهي را ببین ، درین روز ها مبارزه، که ارزش آن را داشت تا باتوجه واهتمام اهمیت تلقي مي گردید ، مبارزه که ضامن پاکسازي وبرتري ملت ازناپاکي ها وگندیده گیها وکثافات بود .

ماچه مي بینم ! ما در اخبار وروزنامه هاي این کشور ، مطالب ازگروه هنري « شاگوکو » که خیابان هاي شهر قاهره را به هیجان آورده است را مي خوانیم ، ما مطالب را ازهنرمند موسیقي نواز « احسان عبده » که درجنگ آزادیخواهي به نوبه، خود سهم گرفته است ، و صحنه هاي را ازدربه شفق که بخود سمت رهبري بخشیده است ، وشانه به شانه بامردان روان است را مي خوانیم .

اما گوشهاي ملت ازدولت چه خواهند شنید ! آنها ازفرستنده هاي رادیوي مصرآهنگهاي جذاب که آمیخته بافحشا وفساد است ، وازخلال آن الفاظ ملیت خواهي ومبارزه براي وطن را مي شنوند ، گویا آنکه بر این ملت لازم گردانیده شد که دعوت بسوي مبارزه وجهاد را ازلابلاي این کثافات واین آهنگهاي رسواکننده وازربان فساد پیشه گان فحشا، وترنم هاي ازیکها فراگیرند .

این چه حال است ؟ چه کسي براي این ملت گفته است که وي مي تواند باهم چو فساد که روحش با آن آغشته است ، ویا این کثافاتیکه ضمیرش را آلوده ساخته ، ویاهم چو ازهم پاشیدگي هاي که کیانش را ازدست داده داخل چنین کار زار وپیکاري شود ، کارزار مرگ وپازندگي ؟

مبارزه در راه حق نیازمند چنان اندام هاي خشن وتن هاي درشت ، و روح واثیار وفداکاریست که ازعقیده راستین سرچشمه گرفته باشد .

چه کسي براي این ملت گفته است که وي مي تواند داخل چنان معرکه، گردد که زنان فاحشه وفتنه انگیز دران وظیفه پخش وگسترش فساد در روح وضمیر اورا بدوش گرفته اند ! چه کسي براي این ملت گفته است که وي توانائي داخل شدن درنبرد آزادیخواهي بانفس هاي شهوت انگیز واجساد شهوت بار را دارد .

من دراجتماع عام که کمیته پیمان ملي درتالار مرکز عام سازمان جوانان مسلمان برگذار ساخته بود به چشم سر خوان پرحماسه، را دیدم که به خاطر درج اسم زني در لست سخن گویان به هیجان آمده ومست ومخمور چشم هایش ازشدت نشه به سرخي گرائیده بود ، وبوي بدیکه ازدهن اش بیرون مي شد طاقت فرسا بود ، اوبود که حماسه وهیجان اورا ازجاي برمي خیزاند وبه جاي مي نشاند ، وازیك جا به جاي دیگر انتقالش میداد تا براي وي زمینه، سخن گوئي را مساعد سازد ! اینهمه چرا !

آیا حقیقت اینست که مصر نمي تواند به مبارزه بپردازد تا آنکه این دسته ازفساد پیشه گان درتظاهرات ومحافل ، شانه به شانه بامردم خود را وصل نسازند ؟ آیا اینست که فدائیون نمي توانند داخل ساحه نبرد شوند تا آنکه شور وهیجان ازین فساد پیشه گان در روح وضمیر شان شعله ورنگردد .

چه کسي براي این ملت گفته است که راه داخل شدن به مبارزه همین است وبس ؟ این حرف را براي ملت آنهای گفته اند که احساس مسئولیت ندارند ، مگر آنکه دربای غرائز پست حیواني وشهوات سرکش سر فرود آرند ، ویا اینهم مردم به این گونه تملق ها گوش نهاده اند ، بخاطر آنکه این ملت تربیه وآموزش سلیم وثابت که اورا درمواضع جدیت درس پایمردي وثبات بیاموزاند وبرایش اهداف واضح وروشن ووراه پلان شده رانشان دهد فراگرنگرفته است .

درینجاست که ارزش پرورشگاه هاي آرام وثابت که تربیه روح وفکر وتن رابه عهده دارد نمایان مي شود ، چنان تربیه، که هرفرد را برفائق آمدن به ضعف نقش باري مي نماید ، نه اینکه دربرابر این ضعف وناتواني تسلیم گردد .

چنان تربیه، که فرد را آماده مي سازد تاپسوي نیکي وفضیلت که درنهاد خود نهفته دارد ، ویا خصوصیت هاي متعالي وارزنده، که درخود دارد راهیاب گردد . نه آنکه چشم بسته درمیان غوغاهاي گوش خراش وجاده هاي پرگرد وخاك راه رود ، زیرا که درینجا امانتیست برگردن رهبران نسل جدید ، ونباید آنها بسان رهبران نسل هاي گذشته که پیرشدند ونه خواستند که این ملت را تربیه درست وسالم دهند ، نباید همه، تمایل آنها به این نکته معطوف باشد که تابع هوا ورغبت هاي نفسي خود گردند ، چون این ملت ، ملت پاك نهاد وپاك سرشت واصیل نژاد واصیل زاد است ، اما صد ها عوامل ناپاك بر روح وضمیر آن غلبه یافته است وصفاي اورا مکدر ساخته .

بناء ضروري است تا ساختمان این ملت را سر ازنو درست ومحکم ساخت ، تا نیرومندانه باچنین ملت ایثارگر وفداکار داخل نبرد هاي آزادي بخش گردیم .

درین جا تنها یك جنگ ویك نبرد وجود ندارد بلکه صحنه هاي مختلف از رزم آزمائي ها آراسته گردیده ، وهیچگاه این ملت درین نبردها به پیروزي دست یافته نمیتواند مادامیکه برضعف نفس که دارد فایق نیاید ، تامادامیکه برشهوات وتمایلات نفس خود غلبه حاصل نکند وتا مادامیکه اهداف خود را نشناسد وراه خود را شناسائي نکند .

من میدانم که رهبران را بالاترازتوان شان مکلف مي سازم ، اما هیچ رهبري مستحق احترام وبزرگداشت نیست تا وقتیکه توانائي آنرا نداشته باشد که ملت را بالاببرد وآنرا پاك نسازد ، نه آنکه خود زعامت ها همراه باملت هرجائیکه درنتیجه، عوامل بد وناسازگار که ازصد ها سال به آن احاطه دارد به بیراهه رود .

مانیازمند رهبران هستیم که عظمت خواه ، شهرت طلب وپر زرق وبرق نباشند ، نیازمند سپاهیان گمنام وفدائیان راستین هستیم که از کف زدن هاي مردم درخود نبالند ، واز ذکر نامهایشان در هرزبان وصورت هاي شان درهرمکان ، خودرا بزرگ منش نخوانند ، بلکه یگانه چیزیکه نزد آنها اهمیت دارد اینست که به تربیه این ملت وآماده ساختن آن بصورت آرام وثابت ، محکم واستوار ، بپاخیزند .

وتا آن دم که اینگونه رهبران سرپیدا شوند ، وتا آن وقتیکه فارغان این پرورشگاه پاکسازي وطهارت وارزشمند افزوده گردد . وتاوقتیکه اینها وآنها به روي صحنه آیند ، مابسوي خاموشي وسکوت ، وانتظار کشیدن دعوت نمیدهم ... نه ، نه چنین نمیکنیم ، بخاطر آنکه چرخه حوادث سریعتر ازانتظاراست ، پس باید هرکدام به راه خود ادامه دهد ، باید که این ملت بپا خیزد وعلي الرغم همه، خطرها بکار آغاز نماید ، وعلي الرغم خواسته، فرصت طلبان بي تفاوت ، وطبل نوازان عود وطنبور ، ومنفعت جویان کارکنند .

اما باید ملت به این یقین بوده باشد تاوقتیکه وي پاك نشده است ، و تاهنگامیکه ملت چنان قیادت ورهبري راکه بتواند او را بالا ببرد درخود نیافته است ، وتازمانیکه این ملت تربیه سالم وکامل ندیده ، قیادت که هدف بالاترازرضاي ملت اسلامي نداشته باشد ، هدف ثابت که بایقین واعتماد ، بانیرو وقوت بسوي آن گام بردارد ، چنین ملتي هرگز به پیروزي نخواهد رسید ، هرچند که مردم ازان هدف روي بتابند وازآن روي گردانند ! اینست همانا راه که ما خواستار آنیم .

سیر مختصري پیرامون اصطلاحات سه گانه، اسلامی

امارت ، امامت ، خلافت

عبدالرقیب « جهید »

امارت :- امیروامارت از ماده، آمر اشتقاق گردیده و درلغت بمعني فرمان دادن وفرمودن کاري راگویند ودر اصطلاح عبارت از حاکمیت آمرا، و متنفذین اسلام است برمسلمین که أمیرشروط و مواصفات امارت اسلامي را حائز باشد و برعلاوه اسلام ، عقل ، بلوغ و حریت به صفت تقوي و عدالت نیز متصف باشد، در برابر حدود و احکام و تطبیق آن درجامعه، اسلامي فقط منظورش اقامه، عدل الهي و خوشنودي الله تعالي و رسولش باشد با کفار محارب و مرتدان اعلان جهاد و آمادگي جیش اسلامي را تدارك نماید و درمورد بازجویي از احوال رعایا اعم از برنا و پیر ، غني و فقیر ، مرد و زن ، یتیم و امیر ، شهیدومعدوم ، مستضعف و محروم ، بي سرپرست و مظلوم در دوره، امارت خود حقوق « مالهم و ما علیهم » رامطابق شریعت اسلام اهتمام نماید ؛ حقوق مظلوم را از ظالم بازستاند ؛ متخلفین و متجاوزین حرمات الله را مجازات نماید و در راه گسترش دعوت اسلامي و تطبیق حدود شریعت اسلامي وحاکمیت عدل و انصاف مساعي بلیغ بخرج دهد . ودرواقع تمام اوصاف یك امیر مشروع وعادل را بخود اختیار نماید چنانیکه درعهد فرخنده، نبوي (ص) و صحابه، کرام و قرون متوالي متحقق گردیده و تمام کارنامه هاي سلف صالحین (رض) سرمشق زندگي براي امرا و رعایا است . لقب امارت بزرگترین شناسنامه، یك رهبرو ولي الأمر مسلمانان از عهد خلفاي راشدین رضي الله تعالي عنهم اجمعین تا امروز است و هر قاید و متولي امور مسلمانان که به نقش پاي خلفاي راشده میرود اطاعتش برهمگان شرعاً واجب بوده و تخلف و سرپیچي و بغاوت از فرمانش قطعاً مجاز نبوده، و درصورت خروج از اطاعت امیر هر متخلف قانوناً مستحق مجازات شناخته مي شود . در مقابل هرگاه امیر مخالف اوامر ونواهي شریعت اسلامي و منافي فرامین الهي (ج) و ارشادات نبوي (ص) امر ونهي کند درینصورت هیچ یك از اوامر او ازنفي و اثبات قابل تعمیل نیست . حضرت ابوبکر صدیق رضي الله تعالي عنه درنخستین خطابه اش بمقام خلافت و جانشیني رسول اکرم صلي الله علیه و آله و صحبه وسلم به صحابه، کرام و حضار مجلس فرمود « من بهترین شما نیستم تا وقتیکه متابعت خدا (ج) و رسولش (ص) را میکنم تابعدا رمن باشید ... »

پس برصاحت ثابت گردید که یك امیر تا آنوقت امارتش مقبول و منظور مسلمین است که مطیع خداوند (ج) ورسولش (ص) باشد و گفتارش با کردارش مطابقت کامل داشته باشد و هرآنچه فرمان میدهد نخست خود بدان عامل باشد درحصه حقوق و مصارف بیت المال بدون درنظرداشت امتیازات ومراتب عموم رعیت وافراد تحت امارت خودرا یکسان قرارداده وعدالت اسلامي را جداً معمول بدارد .

امامت :- امامت درلغت بمعني پیشوا شدن ، مقتدا و رهبریت است و بدوقسم است امامت صغري و امامت کبري امامت صغري آنست که به سطح یك جماعت محدود مسلمین به او اقتداء داشته باشند چون امامت در نمازهاي پنجگانه و جمعه و اعیاد که در اینگونه امامت ساحه، امام در محدوده، خودش قابل تنفیذ بوده و در بسااز احکام شرعي حق اولیت را امام الحي (امام محل) داشته و بدون اذن و رضائیت اوکسي دیگر نمیتواند نیابت کند مگر درصورت عذر و غیابت وي .

و امامت کبري آنست که به سطح دولت وحکومت امور مسلمین را شخصي عالم ، فقیه ، متقي و عادلي عهده دار باشد که ساحه، صلاحیت و تنفیذ احکامش در مدارتمام جامعه، اسلامي احتوا، داشته باشد و این مقام خاصه، انبیاء (ع) و وارثین آنها (علماء و فقهاء و حکماء) است طوریکه خداوند (ج) حضرت ابو الانبیاء یعني ابراهیم (ع) را خطاب فرمود « قال إني جاعلك للناس إماماً » گفت : « بدرستیکه من میگردانم ترا براي مردم پیشوا » .

درهرزمان براي بشریت امامي نصب میگردد که مي باید بیعت و پیمان با وي صورت گیرد ودرمورد کسیکه بمیرد و امام زمان خود را نداند و باوي بیعت نداشته باشد بمرگ جاهلیت مي میرد و این وعید در سلسله، احادیث مبرکه سرورکائنات (ص) منقول گردیده است .

هردو امامت صغري و کبري بسطح جماعت نماز وجماعت سواد اعظم مسلمانان در نزد شریعت اسلام از ارزش و فضایل درخود ذکري برخوردار است وهرکدام از امام صغري و کبري مسئول و ضامن افراد و رعایاي خود اند طوریکه درحدیثي وارد است « الإمام ضامن » برین بنا مسئولیت امام بس سنگین است و چنانچه امیر و قاید مسئولیت یك جماعت و ولایت مسلمین را عهده دار است و درنزد الله تعالي مورد باز پرس در روز جزا قرار میگیرد هکذا امام نیز درنزد الله تعالي از تمام احوال افراد تحت قومانده و امرش جوابده میباشد . ودر حدیث مبارکي به این الفاظ روایت گردیده است « کلکم راعٍ و کلکم مسئول عن رعیة » و این حدیث جامعترین حدیث در باب امارت ، امامت و خلافت است و بطور تفصیل مسئولیت هاي فردي ، خانوادگي ، اجتماعي و کشورداري را بیان نموده است و برگترین اصلي است درباب ترغیب و ترهیب امت و ازهمین مبداء محاسبه نیز آغاز میگردد .

خلافت :- ازخلف بمعني عقب ، پس آینده ویا ازخلف (بفتح خ و لام) مشتق است که بمعني جانشین ، اهل ، فرزند صالح ونواده است و اسم فاعل آن خلیفه و جمع آن خلفاء میباشد در أصل خلافت خاصه، مقام ابوالبشر حضرت آدم علي نبینا و علیه الصلوة والسلام بود و این خلافت را خداوند متعال براي آدم و ذریه اش ارزاني فرموده طوریکه میفرماید « و یاد کن چون گفتیم براي فرشتگان بدرستیکه من پیدا میکنم درزمین خلیفه » و مراد ازین خلافت ، خلافت همه روي زمین و اقامه، نظام باري تعالي است و در خلافت تمام اولاد آدم (ع) حصه دارند و در اصطلاح و اعمار زمین و تنفیذ احکام و شرایع الله تعالي یکسان مسئولیت دارند ودراین مقام نخست حضرات انبیاء و مرسلین (ع) قرارگرفته اند طوریکه خداوند بحضرت داؤد علیه السلام بلفظ (خلیفه) خطاب فرموده و در اسلام بعد ازعهدفرخنده، نبوي صلي الله علیه وسلم اساس خلافت قایم گردیده و اداره، امور مسلمین ازطرف خلفاء اربعه، راشده رهبري میگردید و اطلاق لفظي خلیفه بر فرد فرد مسلمانان شده میتواند و درمجموع همه بندگان خداوند خلفاء اند مشروط که در وجیبه، خلافت کماحقه اهتمام داشته باشند و روي همین منظور خلقت آدمیت بمیان آمد : ابلیس رانده شد ؛ جن توسط ملایك از روي زمین طرد گردید و بکوهها و بوادي کفار زده شدند و خلافت زمین به آدم (ع)سپرده شد اکنون که ما از امارت هاي صغیر و امامت صغري خواهان تشکیل و سیعتري به مستوي امامت کبري و خلافت اسلامي برنهج خلفاي راشدین رضوان الله تعالي علیهم اجمعین هستیم درین راستا به یك

دوم

دشوروي په زړه کښې دچچن اینګوش دمسلمانانو عمومي پاڅون

تیره میلادي میاشت د لومړي ځل له پاره نړیوال تولنیز اطلاعاتي وسایل ، دملتونو عمومي افکار او حتی مسلمانان دچچن اینګوش دمسلمان میشت جمهوریت له نوم سره آشنا شول.

اکثرو بین المللي آژانسونو داسي رپوټونه خپاره کړل چي ددغي سیمي دمسلمانو خلکو له عمومي پاڅون نه یې حکایت کاوه . په دغه پاڅون کښې له پنځوسو نه زیات وژل شول او یو زیات شمیر ټپیان شول . اکثرو مسلمانانو د اسلامي حکومت دجوړیدو غوښتنه کوله .

ددي له پاره چي زمونږ ګران لوستونکي ددغه جمهوریت له مسلمانانو سره آشنائي موثر د اتحاد اسلامي داونیزي په دغي ګڼه کښې دچچن اینګوش دمسلمانانو تاریخي پس منظر او سیاسي ، دیني او اجتماعي وضع د یو لنډ بحث په ترڅ کښې تشریح کوو :

دچچنو اینګوش جمهوریت چي دچچنو انګوشتیا په نامه هم معروف دي له هغو سیمو څخه تشکیل شوي چي مخکښې د « لویي چچنیا » ، « کوچنی چچنیا » او « انګوشتیا » په نامه یادیدلي . دغه جمهوریت په شمالي قفقاز او دشوروي په دننه کښې موقعیت لري . په ختیځ او جنوب ختیځ کښې دداغستان له جمهوریت سره ، جنوب لویدیځ کښې دګرجستان له جمهوریت سره او لویدیځ کښې دشمالي آستیا له خپلواک جمهوریت سره ګډې پولې لري . مساحت یې ۱۹۳۰۰ کیلومتره او پایتخت یې د « ګروزني » ښار دي چي په ۱۹۷۹ میلادي کال کښې یې ۳۷۵ زره تنه نفوس درلود .

دغه جمهوریت چي پنځه ښارونه او ٤ استوګنځي لري په ۱۹۷۹ میلادي کال کښې یې یو ملیون او ۱۵۵ زره تنه نفوس درلود چي په هر کیلومتر مربع کښې یې دنفوس نسبي تراکم ۵۹/۸ تنه ؤ .

ستري او عمده زیرمي یې تیل او طبیعي ګاز دي چي دجمهوریت په داخل کښې تصفیه او دشوروي نورو سیمو ته استول کیږي . دچچن اینګوش زراعتي حاصلات غلې دانې ، میوې ، ګنې او سابه دي . همدا راز دجمهوریت په مختلفو سیمو کښې دحیواناتو ساتنه او روزنه هم رواج لري بالخصوص هغه پسونه چي ښې وړي لري زیات روزل کیږي .

ژبه : دچچن اینګوش دجمهوریت ملي ژبه « چچن » په نامه یادیږي چي دقفقازي ژبو دشمال ختیځ ښاخ ناخچو پوري تعلیق لري .

چچن ژبه دانګوش له ژبي سره زیات نژدیوالي لري او په حقیقت کښې تر ۱۹۳٤ میلادي کال پوري دغه دواړه یوه ژبه ګڼل کیده خو اوس دغه دواړه ژبي یوه له بلي نه جدا شمیرل کیږي .

چچن ژبه څو لهجې لري . په دښتو کښې داوسیدونکو چچنیانو لهجه دچچن ژبي ادبي بنسټ او اساس دي . په دغي ژبه کښې د عربي ، فارسي ، ترکي ، ګرجي او روسي ژبو یو زیات شمیر لغات استعمالیږي .

په اداري ، قضایي ، او نورو ټولو دولتي چارو کښې له روسي ژبي نه کار اخیستل کیږي خو دضرورت په وخت کښې دچچن له ژبي نه هم استفاده جائزه ده . په ۱۹۵۸ میلادي کال کښې دښوونځیو په لومړي ، دویم ، دریم او څلورم ټولګي کښې زده کړه په چچن ژبي ترسره کیده خو په ۱۹۷۲ میلادي کال کښې دچچن ژبه یوازي په ابتدائي دوره کښې داستفادې وړه وګرځیده په همدغه کال کښې نوموړي ژبه په ابتدائي او متوسطو ښوونځیو کښې داختیاري او مستقل مضمون په توګه تدریس کیده . په دي هکله نوي معلومات په لاس کښې نشته .

په ګروزني کښې یوازي یو پوهنتون او یو انستیتوت موجود دي چي په روسي ژبه تدریس کوي .

په دغه جمهوریت کښې ځیني مجلي او ورځپاڼې شته چي په چچن - اینګوش او روسي ژبو خپریږي خو اوس ځیني کتابونه او رسالي هم په چچن ژبه چاپ او دخلکو په مینځ کښې لاس په لاس کیږي .

لیکه دود : دکمونیستانو دواکمنې له پیل نه وړاندي ، دچچن ژبي دلیکلو له پاره هلې ځلې وشوي خو دغه کوششونه هغه وخت سرته ورسیدل چي دغي ژبي دیوي ادبي ژبي په بڼه کسي پراختیا وموندله . په لومړیو څوکلونو کښې دچچن ژبي دلیکلو له پلوه له عربي ژبي نه استفاده کیده .

د ۰ چچن اینګوش ۰ دمسلمانانو تاریخ ته لنډه کتنه

دشوروي تاریخ دچچنیانو اصل او نسب ندي مشخص کړي خو په زیات احتمال سره هغوي دشمالي قفقاز داصلي اوسیدونکو قومونو څخه دي او دلرغوني پیژندني او دچچنیانو دقومي کیسو شواهد دغه نظر تائیدوي . دارمنیانو دلومړي پیړۍ کتابونو او دګرجیانو پخوانۍ تاریخي کتابونو له چچنیانو نه یادونه کړې او دکلیسا ؤ پاتي شونږم له دیته حکایت کوي چي کم ترګمه یو شمیر چچنیان ، هغوي په بیلا بیلو نومونو پیژني .

ترکي کومیکان هغوي دمیچي ګیش ، روډ قوم دمیچك ، او ګرجیان دکیس تي او آواریان د بورتیل او آواریان بګوناخچا تیا (چي دهغوي دسیمه ایز نوم ونوخچو څخه مشتق دي) په نامه یادوي . دهغوي روسي نوم دهغوي داوسیدو له سیمي د بلوري چچن « (لوي چچن) څخه اخیستل شوي چي دارګون دسیلد پرغاړو پرته ده .

چچنیانو په لومړي سر کښې په غرونو کښې ژوند کاوه ، خو دشپاړسمي پیړۍ له وروستیو څخه وروسته یې په دښتو کښې اوسیدل غوره کړل . دشوروي دسفیرانو دریوټونو له مخې په ۱۵۸۷ میلادي کال کښې زیاتره چچنیانو دسونژا دسیند پرغاړه ژوند کاوه ، په شپاړسمه میلادي پیړۍ کښې اسلام د آواریانو او چچنیانو په وسیله دداغستان له لاري دچچنیا ترمینځ خپور شو په دغي دوره کښې داغستان داسلامي فرهنګ ډیر مهم علمي مرکز ؤ او دچچنیانو څخه یو زیات شمیر داسلامي علومو دزده کړي له پاره دغي سیمي ته تلل . هغوي دنولسمي پیړۍ په منځنیو کښې دامام شامل په رهبري دمریدانو له پاڅون نه ملاتړ وکړ . دپاڅون له ماتي وروسته داغستان دروسانو په ولکه کښې ورغی او داکار ددي سبب شو چي یو زیات شمیر چچنیان ترکیې ته هجرت وکړي او کوم چي باقي پاتي شول دنوي وضعې او بدلون په وړاندي یې څو څو ځله پاڅون ته اقدام وکړ .

په ۱۹۱۷ میلادي کال کښې داکتوبر دانقلاب نه وروسته په قفقاز کښې دقدرت دسیالي له پاره سخته جګړه پیل شوه چي په پای کښې بلشویکي قواؤ دسیمي واګي په لاس کښې ونیول اوبیا دي توګه دشوروي ترکي جمهوریت (دروسیې دسوسیالستي شوروي دمتحد جمهوریت څخه یوه برخه) په ۱۹۱۸ میلادي کال کښې تشکیل شو . په ۱۹۱۹ میلادي کال کښې سپین پوځ ، دغه سیمه په خپله ولکه کښې راوسته خو په ۱۹۲۰ میلادي کال کښې کمونیستي قواؤ یو ځل بیا په دغي سیمه باندي خپله واکمنې ټینګه کړه اوبیا دي توګه په ۱۹۲۱ میلادي کال کښې دګورسکایا غرني خپلواك جمهوریت مینځ ته راغلی . دغه جمهوریت دآستیانو ، بالکاریانو ، چچنیانو ، اینګوشیانو ، کاباره یانو او قره چایانو څخه جوړ شوي ؤ . په ۱۹۲۲ میلادي کال کښې چچنیا او څو نوري سیمي دګورسکایا له جمهوریت نه جدا شوي او کله چي په ۱۹۲۳ میلادي کال کښې منحل شو ، د انګوشتیا ، سیمه هم خپلواکه اعلان شوه . دغه دوه سیمي تر ۱۹۳٤ میلادي کال پوري - چي یو ځل بیا له یو بل سره یو ځاي شوي او دچچنو اینګوش په نامه یې یو خپلواك ولایت مینځ ته راؤړ ، دوه خپلواك او جلا ولایتونه باقي پاتي شول . د چچنو اینګوش خپلواك ولایت په ۱۹۳۶ م کال کښې دچچنو اینګوش په خپلواك جمهوریت باندي تبدیل شو .

دکمونیستي حکومت په لومړیو کښې دچچنیانو په مینځ کښې قومي نظام ډیر قوي ؤ له دي امله له ځمکي نه داستفادي ګډ مالکیت هم دګډ قومي مالکیت په اساس ؤ . ددي حق په لغو کولو او ددولتي مالکیت په رامینځ ته کولو سره دچچن مسلمانانو په سخت فعالیت لاس پوري کړ او پراخ پاڅون ته یې ملا وتړله . دهغوي دتصفیې له پاره دحکومت سیاسي اقداماتو نوره هم اوضاع خرابه او خړه پړه کړه له دي ټولو سره سره کله چي دویم نړیوال جنګ پیل شو اکثره چچنیان له المانیانو سره مبارزې ته راپورته شول او دسوریو ځ سره خوا په خوا وجنګیدل چي زیاتره یې دزړو زړو توپ ښیانو نه هم راخیستل . څوکله چي جنګ پاي ته ورسید چچنیان او اینګوشیان دشپږو نورو ملتونو په ګډون په خیانت متهم شول او دخپلو اصلي وطنونو څخه مرکزي آسیا او قزاقستان ته تبعید شول . په ۱۹٤٦ میلادي کال کښې دچچن اینګوش خپلواك جمهوریت منحل شو خو ترهغه وخته پوري هم دهغوي سیمه نورو مهاجرینو ته ورکړل شوي او دځایونو ټول نومونه په روسي نومونو باندي تبدیل شوي ؤ . په ۱۹۵۷ میلادي کال کښې دشوروي پخوانې مشر نیکتاس خروسچف د قومونو دغه لیږدول بروحشیانه عمل وباله او بیا وروسته حکومت ددي قومونو په سرڅه ناڅه لاس کش کړ او رسماً یې دهغوي دحیثیت اعاده وکړه . قومي نوم یې دجمهوریت نوم شو او پخپله دوي ته هم اجازه ورکول شوه چي خپلو اصلي ټاټوبونه ستانه شي . دتعجب وړنده چي خپلي خاوري ته دهغوي بیرته ستنیدل دنوریو میشته شویو قومونو له خوا استقبال نه شول دالمکه چي بیا وروسته ددوي او په سیمه کښې دمیشته شویو قومونو ترمینځ سخت بحران مینځ ته راغلی چي کله ناکله به یې ډیري پراخي نښتي له ځان سره درلودلي

دروسیې دتاریخ په اوږدو او بالخصوص دکمونیستي انقلاب نه وروسته دچچن مسلمانان دسختو محرومیتونو او سیاسي او اجتماعي فشارونو لاندي ژوند کاوه او له سیاسي ، اجتماعي او دیني ټولو حقوقونه محروم ؤ . کمونیستي دولت په ظاهره داادعا درلوده چي خپل ټاټوبي ته دچچنیانو له بیرته ستنیدو نه وروسته هغوي دشوروي دتابعیت له ټولو حقوقو نه برخمن شول ، خو په حقیقت کښې دا دکمونیستانو هغه دروغ ؤ چي دنړي دمسلمانانو دغولولو له پاره یې په کار اچول . دګورباچوف پرضد د ۱۹۹۱ میلادي کال داګست دکودتا نه را په دیخوا چي په ټول شوروي اتحاد کښې آزادي غوښتونکو حرکتونو پراختیا وموندله دچچن انګوش مسلمانان هم راپورته شول او دروسیې له فدراسیون نه یې دخپلي آزادي له پاره هلي ځلي پیل کړي . تقریباً دري میاشتي وړاندي دچچن اینګوش مسلمانو خلکو د چچن دخلکو دعمومي کنګري په لاربنوونه په جمهوریت کښې داساسي قانون له ارګانونو سره په مبارزي لاس پوري کړ . دچچن دخلکو عمومي کنګره د ۱۹۹ میلادي کال دنوامبر په میاشت کښې هغه وخت جوړه شوه چي ددغه جمهوریت دښارونو او کلیوالو سیمو یو شمیر تنخیو استازو په یوه غونډه دچچن اینګوش دجمهوریت دخپلواکي اعلامیه تصویب کړه . دجمهوریت عالي شوري هم یوه ورځ وروسته دچچن اینګوش جمهوریت مستقل اعلان کړ خو دجمهوریت تقسیم یې رد کړ - سره له دي چي اینګوشیانو هم دیوځانګړي جمهوریت دلرلو هیله درلوده . کله چي جنرال دودایف دکنګري مشر وټاکل شو نو په ۱۹۹۱ میلادي کال کښې مختلف ګوندونه او حرکتونه له هغي جملي نه د « ایلاځ » دیموکراتیك ګوند ، « والسلام » ګوند او دقفقاز ټولني ګوند له دغي کنګري سره یو ځای شول او کنګري هم په خپل وار سره سملاسي دجمهوري د عالي شوري دلغو کولو موضوع مطرح کړه . ددي په نتیجه کښې دکنګري غړي دحکومت ترڅارني لاندي ونیول شول او هغوي مجبور شول چي نشرات او ورځپاڼې دبالتیك او ګرجستان په جمهوریتونو کښې توزیع کړي . خو د اګست دمیاشتي له کودتا نه وروسته دکنګري له پاره نوي امکانات په لاس ورغلل او دخپلو غوښتنو پروسه یې لا پراخه او غواکمه کړه . دکنګري پلویانو داګست له میاشتي وروسته ټل مظاهري کولي او دعالي شوري داستعفا غوښتنه به یې کوله . همانه ؤ چي دجمهوریت عالي شوري دسپتمبر په میاشت کښې استعفا ورکړه او قانوني قدرت یې یوي مؤقتي عالي شوراي ته وسپارلو خو دکنګري رئیس دغه بدلون رد کړ اوبیا دي هکله دروسیې دفدراسیون دیو هیئت هلي ځلې هم بې نتیجې پاتي شوي . خود اکتوبر په پنځمه نیټه دغه بحران یو ځل بیا خپل لوړ اوج ته ورسید دالمکه چي دچچن اینګوش مسلمانو خلکو د « دودایف » په مشري یو ملي پوځ جوړ کړ او دجمهوریت وسله وال پوځ یې خلع سلاح او دکې - جي - بي او ددولتي وزارت ودانۍ یې په خپله ولکه کښې راوستي . داکتوبر په ۸ نیټه دروسیې دفدراسیون دعالي شوراي پریزیدیوم دیوه قرارداد په ترڅ کښې په دي خبره تاکید وکړ چي مؤقتي عالي شوري دچچن اینګوش په جمهوریت

٤٤

سیر مختصري ...

ریفراندوم عریض و طویل بنیاداً و اصالتاً نیاز داریم تا مطابق اهلیت و شخصیت ازمیان همه، امت و با بسطح یك ملت خلیفه، عادل و صالح را باه همه شروط ب مواصفات آن انتخاب و به آن بیعت اسلامي خودرا ابراز داریم و همچنان بهای امامت کبري بسطح جامعه، مسلمین و جوباً انتصاب آن مبرود و امارت های کوچك وولایت خاصه در محدوده، تنظیم ها نظر بمصالح وقت وزمان تارفع حاجت و حصول هدف است هرگاه علت ضرورت و حاجت منتفي شد امارت هاي،خاصه نیز منتفي میگردیده پس بدون تردید براي قیام خلافت اسلامي و امامت کبري به تشکیل ویژه بی نیاز داریم که مي باید ازهمین اکنون در راه دستیابي آن من کل الوجوه کوشا باشیم . صرع

دبریالیتوب راز په صبر او . . . .

د سوره، الحجرات په (۱۵) آیت کښې فرمائي : « حقیقي مؤمنان هغه کسان دي چي پرالله او دهغه په رسول یې ایمان راؤړ او بیا شکمن نشول او پخپلو مالونو او سرونو سره یې د الله په لارکښې جهاد وکړ ، همغوي رښتونې خلك دي » .

د في سبیل الله جهاد پراهدافو او مقاصدو باندي پوهیدل مجاهدته ادراك ، بصارت ، نور او هدایت وربښي ، له غلط او منحرف حرکت څخه یې ساتي ، قدمونه یې ټینګوي ، د خپل هدف نه پرته په بل لوري ګوزار نکوي ، د تویلك خوله یې دهغه چاپه لوري اوړي چي باید واوړي ، هغه خواته نه اوړي چي باید وانه وړي ځکه چي پوهه او علم انسان د حق خواته رهبري کوي ، د رڼاګو په شان په تیاروکښې تینګکونه نه خوري اونه د جاهلانو په څیر په منحرفو لارو خوځیږي . »

الله تعالي د سوره، محمد په (۱٤) آیت کښې فرمائي : « آیا هغه څوك چي د خپل رب له لوري په ځرګند او روښانه هدایت باندي وي د هغو خلکو په څیردي چي د هغو لپاره خپل بد عمل ښایسته کړاي شویدي اودخپلو نفسي غوښتنو پیروان دي ؟(نه هیڅکله) » .

د سوره، فاطر له (۱۹ - ۲۲) لمبریوري آیتونوکښې فرمائي : « ړوند او بینا برابرندي . نه تیاري اورڼا یوشانته دي ، نه یخ سیوري اوتود لمریوشانته دي اونه ژوندي اومړي سره مساوي دي » .

في سبیل الله جهاد له لله سره روحي پیوستون غواړي . هغه چي د خداي (ج) درضا اولقا حاصلولو په تلوسه کښې اودجنت د ابدي نعمتونو په هیله وي ، دغسي روح مؤمن مجاهد د قرباني ، ایثار او سرښندني لپاره چمتوکوي اوددنیا ښایست او ګټې یې یې ارزښته ترنظره وروليي ، ټولي هڅي یې داخرت لپاره وي نه د دنیا لپاره . الله تعالي د سوره، احزاب په (۲۳ - ۲٤) لمبرآیتونوکښې فرمائي : « له مؤمنانو څخه شته داسي کسان چي هغوي له الله سره خپل تعهد رښتوني کړیدي ، له هغونه چا خپل نذر پوره کړ اوڅوك دوخت راتللوته سترګې په لاره دي ، هغوي په خپله کړنلاره کښې هیڅ تبدیلي رانه وستله دا ددي لپاره چي الله صادقانو ته دهغوي د صداقت مکافات ورکړي اومنافقانوته که یې خوښه شي سزا ورکړي اوکه یې خوښه شي دهغوتوبه قبوله کړي، بیشکه الله غفوراورحیم دي » .

د رسول الله صلي الله علیه وسلم خواږه ملګري د همدغسي سپیڅلي روح څاوندان وو چي دجهاد په ډګرونوکښې به یې د شهادت غوښتني پخاطر یوله بله مسابقې کولي . ابن اسحاق د بدرد غزا د حالاتو بیانولو په ترڅ کښې وائي : پیغمبر صلي الله علیه وسلم مجاهدین وهڅول وبې فرمایل : ثن چي هرڅوك د کافرانو پرضد د خداي د رضا په هیله په صبراو ثبات سره مخامخ وجنګیده اووژل شو الله تعالي به یې جنت ته داخل کړي » .

حضرت عمیربن حمام پداسي حال کښې چي خرماوي یې خوړلي د بنو سلمه خلکوته یې وویل : واه واه ! زما او د جنت ترمینځ همدغه پاتي ده چي دغه دښمنان مې ووژني ، خرماوي یې ایښته وغورځولي ، توره یې راواخیستله ، ددښمنانو په صفونو کښې ورننوت ، ترهغه وجنګیده چي شهید شو » .

نسائي د حضرت شداد بن الهاد رضي الله عنه په روایت یو حدیث رانقل کړیدي چي : یو اعرابي سړي دپیغمبر صلي الله علیه وسلم حضورته راغي ، ایمان یې راوړ اوبیایې وویل : یا رسول الله ! زه لتا سره ځم ، رسول الله صلي الله علیه وسلم غازیانو صحابه ؤ ته دهغه په باب سفارش وکړ . پدي غزاکښې پیغمبر صلي الله علیه وسلم دغنیمت یوڅه مالونه په لاس راوړل اوهغه یې په غازیانو باندي وویشل چي اعرابي ته هم پکښې برخه ورسیدله ، هغه عرض وکړ : داڅه دي ؟ پیغمبر صلي الله علیه وسلم وفرمایل : داستا برخه ده . هغه عرض وکړ : ما خوستا پیروي ددي پخاطر نده کړي چي غنیمت واخلم ، ما ددي لپاره ستا پیروي کړیده چي دلته وویشتل شم ، خپل ستوني ته یې اشاره وکړه بیا له همدي ګوزارنه مړشم اوجنت ته لاړشم . پیغمبر صلي الله علیه وسلم وفرمایل : که ته له خداي سره په وعده کښې رښتوني یې نوخداي به تارښتوني کړي . لږوخت وروسته دجهاد میدان ته ورداخل شول ، په نتیجه کښې اعرابي پداسي حال کښې درسول اکرم صلي الله علیه وسلم حضورته راوړل شو چي په همغه ځاي باندي یې غشي لګیدلي ؤ کوم ځاي ته چي هغه اشاره کړي وه . ددي حالت په لیدلو رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل : داهمغه سړي دي ؟ صحابه ؤ عرض وکړ : هو! وبې فرمایل : ده خپله وعده رښتیا کړه خداي هم دي رښتوني کړ ، بیا وروسته د پیغمبر صلي الله علیه وسلم په مبارکه چپن کښې ونغښتل شو او رسول الله صلي الله علیه وسلم د جنازي لمونځ وربانديي اداکړ اودا الفاظ د رسول الله صلي الله علیه وسلم له خولي نه واوریدل شول چي : « اللّهُمّ هذا عَبْدُكَ خَرَجَ مُهاجِراً فِىْ سَبِيْلِكَ فَقُتِلَ شَهِيْداً وَأنَا شَهِيْدٌ عَلى ذٰلِك . » یا الله ! دا ستا بنده دي ، ستا په لارکښې مهاجر راووت اودشهادت مړینه وربه برخه شوه ، زه پدي باندي شاهدیم » .

دجهاد د پیاوړتیا اوبریالیتوب ددغو معنوي رازونو ترڅنګ ځیني نور مادي مقومات هم ډیر ضروري دي د صف یووالي اودمجاهدینو ترمینځ د خوږي او صمیمي ورورولي اوخواخوږي موجودیت ددغو مقوماتو په لومړي ردیف کښې ځاي لري . د مجاهدینو له متحد صف سره د خداي تعالي محبت دي اوله چاسره چي د خداي مینه وي هغه به هیڅکله له شکست اوذلت سره مخامخ نشي ، ددي په عکس متفرق اوپراګنده وله د خداي نه خوښیږي اونه ورسره خپل نصرت ملګري کوي اوکله چي د خداي نصرت نه وي بل به څوك وي چي نصرت ورسره وکړي .

پخوا مو څه کول ؟ اوس څه کوؤ

محمد دوست

اوس چي زمونږ دجهاد ډیره حساسه اوناز که مرحله اوددښمنانو ددسیسو او توطئو سره مخامخ ده دخلکو ستونزي زیاتي او په هر کور کښې دغم او ماتم تغر اواردي ، دي حالاتو څخه ځان ژغورل او راوتل اوددي وضعي بدلول څه خاص عمیق دقت ته اړتیا لري که مونږ وغواړو چي دغي وضعي کښې تغیر اوبدلون راولو تر هرڅه دمخه باید په دي فکر وکړو چي څه علت او عوامل ؤ چي مونږیې په دغه شان بدبختیو اخته کړو کله چي مونږ خپلو تیرو اعمالو ته په ژوره توګه وګورو ویه وینو چي مونږ له جهاد نه په تیره موده کي څه نکول افغانستان کي ځیني خلکو خداي هیرکړي ؤ فساد ټوله فضانیولي وه اخلاقیات له مینځه تللي ؤ ، دخداي سمه بندګي نه کیده دیني طالبانو ته په سپکه سترګه کتل کیده ساز او سرود اورقص عام رواج ګرځیدلي ؤ په ودونوکښې بنځي ګډیدلي شراب خوري ډیره زیاته شوي وه له کومه ځایه چي دفساد دغه سیلاب په زیات قوت سره مخ په وړاندي روان ؤ نو یوشمیر مسلمانانو ددغه سیلاب دمخنیوي لپاره ډیري هلي ځلي کولي خو هیچا ورته اهمیت نه ورکاوه دوخت حکومتونه دفاسدو یې دیښو ، بې کفایته خلکو په لاس کي ؤ ، اوهغوي پخپله دفساد تر شاولاړ وو او ددین پرخلاف یې ستګرونه نیولي وو حکامو ددغو مسلمانانو پر خلاف له هیڅ راز شکنجو او ربرونو څخه ډډه ونه کړه یو تعداد یې ونیول دپلچرخي په تورو کندو کي یې واچول بنځ یې کړل داتهول زمونږ داعمالو نتیجه وه داتهول په دي خاطر وه چي مونږ خداي هیر کړي وه له دین نه مو فاصله نیولي وه خداي او دآخرت ورځ مو هیره کړي وه دغه وضع په افغانستان کي ورو ورو دخداي دقهر او غضب موجب وګرځیده بالاخره له کومو بدبختیو او مشکلاتو سره چي نن ورځ مخامخ یو دهماغه مخکنیو اعمالو او اوضاعو نتائج دي کله چي داحالات مینځ ته راغلل دخلکو فکر سرته راغي اوله ځانه سره یې وویل چي داڅه وشول همداوخت ؤ چي یو تعداد مسلمانانو ،بیا درده خلکو هغه کسانو چي پخوا به یې هم چغي وهلي اودابه یې ویل چي اي خلکو له خداي څخه ووېریږئ دخپل ځان او ټولني اصلاح ته متوجه شي کفر راروان دي خو هیچا به ددغو خبرو پروانه کوله اوبدي بساندي به یې خنداوي او ملنډي وهلي اوداېه ویل کیدل چي دغه وله د ترقۍ مخه نیسي بیا هماغه کسان دلوي خداي په مرسته مخي ته شول اودجهاد غږني پورته کړ اوله کفر او الحاد سره یې مسلح جهاد اعلان کړ اودخداي په فضل او مرحمت سره جهاد دکامیابي پړاؤ ته نږدي شو اوس چي په افغانستان کي داسلامي حکومت دټینګیدو وروستي شیبي دي یوشمیر کسان داسلام له اصلي لارو څخه بیلې کړوي او دخپل تیر تاریخ او شرایطو ته هیڅ پام نه ساتي اوس هم توبه ویستل نشته په خپلو پخوانیو خطاؤ باندي پښیماني نشته اوس هم دجهاد او هجرت په دوران کي یو لړ ناوړه اوفاسده عملونه سرته رسول کیږي او داسي ورځ به نه وي چي دکمپونو په مسجدونو کښې دشهید فاتحه وانه خیستل شي له هرکوره دغم او ویر چغي پورته کیږي دمعیوبینو ، یتیمانو ، کونډو او رنډو هیڅ پروانه کیږي ټیپونه اودموسیقي قیلې غږول کیږي بې نمازي بې ستري بد اخلاقي بې احترامي بې ځایه جنګ جدل اوس هم مونږ کي رواج دي په داسي حال کښې چي ملك مو ددین دښمنانو وران کړ ، کوروڼه مو ویجاړ ، ځمکي مو ځنګلونه ښارونه مو کنډوالي ، کارخانې مو وراني ، سرکونه مو کندي کندي شول خوددي مشکل څخه دخلاصیدلو یوازنۍ لاره خداي ته رجوع او په ګناهونو باندي اعتراف او پښیماني کول دي

ایاچین به دکمونیزم دیوه سنګرپه حیث پاتی شی؟

مخکی لدی چی پورته پوښتنی ته موځواب ورکړی وی ښه به داوی چی دچین پر اقتصادی ، سیاسی او اجتماعی اوضاع هم څه ولیکو ترڅو ویوهیږو چه د چین اوسنی نظام یو کمونیستی نظام دی اوکه سرمایه داری سیستم په نوموړی هیواد کی جریان لری .

په هرصورت اوس که په نړیواله سطحه د چین سیاسی ، اقتصادی او اجتماعی روابط وڅیړو ویه وینو چه تراوسه چینائی زمام دارانو د کمونیزم په نوم خپل ولس ته دوکی ورکړی اودخپل ملت سترګی ئی د باتدینی نړی د لیدو په وړاندی پټی ساتلی خولدی سره ، سره بیاهم چه کله ناکله په چین کی د چا له خولی نه د ازادی،جمهوریت اودیموکراسی ناری پورته شوی چینائی دیکتاتورانو داسی سرکوب کړی چه یا خوئی په خپلو وینو لمبولی اویائی د ابد لپاره د زندانونو تورو تیاروته کش کړی چه ښه مثال ئی د تبت د مسلمان ولس زورول اویه ۱۹۸۹ م کی د بیجنګ په میدان کی د زرګونو محصلینو سرکوبول اوله مینځه وړل کیدای شی .

که په سیاسی او اقتصادی لحاظه د چین روابط د نړی له نورو هیوادونو سره مقایسه کړو ویه وینو چه ددی هیواد لیډرانو اولوړو دولتی کارکونکو تل د خپلی فلسفی په خلاف عمل کړی او کوی یی او هغه داسی چی له یوی خوائی خپل ځانونه له پانګوالی سیستم سره وران ګڼل او په چین کی ئی د کمونیزم درامینځ ته کیدو په سله خپل مظلوم ولس ته دوکی ورکول خوله بلی خوانه ئی لکه روسان خپلی ناوړه سترګی د امریکی اودهغی د متحدینو خیراتونو او اقتصادی مرستوته نیولی وی اود لویدیځی نړی په اقتصادی مرستو ئی خپل اقتصادی پلانونه عملی کول خودهغه چا خبره چه ویلی ئی دی « ګوزیار ترمنزله نه رسیږی » واقعیت لری اوهغه ځکه چی نن تو د چینایانو هغه وعدی چه خپل ولس ته ئی د کمونیزم د عملی کیدو او غربیانو ته ئی د دیموکراسی درامینځ ته کولو په منظور ورکړی وی ټولی داسی دروغ شوی چی نورنو چینائی مشرانو دغربیانو اوخپلو هیوادوالو په وړاندی خپل حیثیت له لاسه ورکړی دی اوداځکه چی د چینائی کمونیستانو وعدو د کوږ بار مثال درلود چه یوه ئی هم عملی نشوه .

هو ! پرون همدا چینایان وو چه د غربیانو په بی حسابه اقتصادی پوروتو اومرستو ئی ونشوای کړی چه په خپل هیواد کی د کمونیزم هغه نقشه چه ماؤسی تونګ !! طرحه کړی وه تطبیق کړی نو نن به څنګه د غربیانو له اقتصادی کمکونو پرته پدی وتوانیږی چه خپلو کمونستی پلانونوته د عمل جامه ور واغوندی ، نه هیڅکله به چینائی کمونستان هم لکه روسی کمونیستان پدی ونه توانیږی چه خپل هغه خوبونه چه د کمونیزم په هکله ئی لیدلی په عمل کی پلی کړی ، داځکه چی د کمونیزم فلسفه په حقیقت کی یوه داسی فلسفه نده چی تهداب به ئی په علمی اصولو اودلایلو ولاړوی بلکه دا فلسفه دکمونستی فلسفه

محمد داؤد « بهار »

« هغه دوحشت ، بربریت او بشکیلاك فلسفه وه اوده چه نن ئی اصلی څیره ټولو نړی والوته ځرګنده شوی اوهرڅوك ورته د نفرت په سترګه ګوری .

څو ورځی دمخه په چین کی خبری آژانسونو داسی یو خبر نشرکړی ؤ چی په هغه کی ئی د روسانو د کمونستی نظام دماتی په دغربیانو پراوپواچولی وه اولدی خبر سره ئی داهم زیاته کړی وه چی د چین دولت داسی استاد اوشواهد په لاس کی لری چه په هغه کی پورتنی حقیقت « د غربیانو پلاس په روسیه کی د کمونیزم د ماتی حقیقت » روښانه ځرګندیدای شی خود چینایانو دا اوتی بوتی هم ځکه واقعیت نه لری چه په روسیه کی د کمونیزم زوال ، په شرقی اروپا کی نوی تحولات ، اود مظلومو ولسونو بیداری یوازی د افغانانو د جهادی پاڅون له برکته رامینځ ته شوی نه داچه ذکرشوی بدلونونه به د امریکی اودهغی د انهپرالانو د سیاسی فعالیتونو نتیجه وی چه نن ئی چینایان دروړوری ثړی اویه دی ترتیب د مسلمانانو له بریالیتوب نه سترګی پټوی اونړیوال ذهنیتونه د افغانانو د مقدس جهاد په وړاندی مشکوکوی ، ولی واقعیت بل اوهغه دادی که نن چینایان په هره اندازه تبلیغات وکړی اویه نړی کی اوسنی تحولات د غربیانو د فعالیتونو ثمره وبولی خوبیا هم د سلیم عقل او بصیرت خاوندانوته دوکی نشی ورکولی چه لدی وړاندی به ئی په دروغجنو تبلیغاتو وغولیږی . صرع

مجاهدینو په غورولایت کښي دلاسپوڅی رژیم یوه پوسته فتح کړه

د غور ولایت نه میډیا ته خبر ورکړل شوي چي مجاهدینو د عقرب د میاشتي په ۲۵ نیټه ددغه ولایت د شهرك پرولسوالي اوشاوخوا امنیتي پوستو باندي د درندو اوسپکو وسلو څخه په استفادي سره بولي بريالي عملیات ترسره کړل چي دهغو په نتیجه کي د کابل رژیم د قواو یوه پوسته فتح اویوشمیر نوري ئي ویجاړي کړیدي.

ریوټ زیاتوي چي مجاهدینو پدي جګړه کي د رژیم د قواو یوزیات شمیر عسکر اوملیشه وژلي او یوشمیر نورئي تیښتي ته مجبوره شویدي.

د خبرخاي د ریوټ له مخي مجاهدینو پدي جګړه کي د رژیم له قواو څخه دوه میله (۸۲) توپ ، یومیل دهشکه ، یومیل پیکا ماشیندار او (٦۰) میله کلاشینکوفونه د یوي زیاتي اندازي مهماتو اولوژستیکي موادو سره په ولجه نیولي دي.

د یویل خبر له مخي مجاهدینو له درندو وسلو څخه په استفادي سره ددغه ولایت د شهرك پرولسوالي اوشاوخوا پوستو باندي بولي بريالي عملیات ترسره کړل چي دهغو په نتیجه کي د کابل رژیم دوه کلك سنګرونه ویجاړ ، یوشمیر ملیشه مړه اویو شمیر نورئي ټپیان شویدي.

په ریوټ کي د مجاهدینو د تلفاتو په هکله څه ندي ویل شوي.

دافغانستان داسلامی ...

سرته ورسوي . دغه کار هم په انفرادي صورت سره کیداي شي او هم په ډله ایزه توګه .

ده زیاته کړه : ددستجمعي دعوت له پاره ډیره ښه لار دحلقو جوړول دي او همدا کار دالملونه برابروي چي مسلمان اسلامي احکام له تعطیل نه راوباسي او دعمل په ساحه کښي یي پیاده کړي . داځکه چي اسلامي حکومت په انفرادي دعوت سره مینځ ته نه راوستل کيږي بلکي ددي کار له پاره دستجمعي دعوت ضروري دي .

استاذ سیدعمر په ټولنه کښي د دینې درسي حلقاتو دجوړولو په ضرورت ټینګار وکړ وبي ویل : ددغو حلقاتو له جوړولو نه هدف دمسلمانانو ترمینځ تفاهم ، تضامن ، تکافل ، نظم او دمسلمانانو دستونزو او مشکلاتو حل کول دي .

استاذ سید عمر دخپلو خبرو په پاي کښي دجهاد په ازدو کښي رواتو اختلافاتو ته ګوته ونیوله او هغه یي زمونږ دجهاد دبريالیتوب په لار کښي ډیر غټ خنډ وباله وبي ویل : زمونږ دجهاد برکت ؤ چي دنړي ډیر ستر مادي قدرت ماتي وخوړه خوددغو بي اتفاقیو په نتیجه کښي زمونږ دبريالیتوب لاروپ شوي ده .

دغونډي په بله برخه کښي ددعوت او ارشاد دکمیټي رئیس محترم قیام الدین کشاف یوه علمي او ارزښتناکه وینا وکړه او په خپلو خبرو کښي یي دسرورکائنات حضرت محمد (ص) دهغو حقپالونکو او سربښندونکو اصحابو په ژوند رڼا واچوله چي خپل ټول ژوند یي داسلام دخدمت او ساتني له پاره وقف کړي او دمحمدي مدرسي ډير ښه داعیان ؤ .

محترم کشاف زیاته کړه : داسلامي دعوت لار ډیره اغزنه اوله کړاوونو ډکه ده او زمونږ ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) هم ددین ددعوت په لار کي داسي تکلیفونه وګالل چي دیو مسلمان له پاره دخداي په لارکښي دفداکاري او سرښندني ډیر ښه مثال دي .

ددعوت اوارشاد رئیس دخپلو خبرو په یوه بله برخه کښي وویل : اسلام ددي لپاره راغلي چي انسانیت تعمیر کړي ، انسان ته دهدایت لار وروښیي او زړونه آباد کړي ، نه ددي له پاره چي پلونه اوسړکونه آباد کړي ، پلونه او سړکونه خو په پرمختللو هیوادونو کښي ډیر آباد شوي خو چي انسانیت یي تخریب دي نو دلیوانو او درندګانو حیثیت لري .

محترم کشاف په خپلو خبرو کښي دافغانستان دمسلمان اولس جهاد او سرښندنه دبدر ،خندق ، احد ، حنین ، ذات الرقاع ، تبوك او دموته له یادګارونو سره تشبیه کړه اوهغه یي دپیغمبر (ص) او دصحابه کرامو پر نقش قدم باندي قدم کیښودل وبلل او وبي ویل : دا دپیغمبر (ص) اودهغه دملګرو لاره ده اوزمونږ ته یي داسوه حسنه په توګه په میراث پري ایښي ده.

محترم کشاف زیاته کړه : دافغانستان دجهاد تولـي صحني دردوونکي دي خو جفا کار به هغه څوك وي چي دیاغفته خوېندو ، یتیمانو ، شهیدانو او مجاهدینو قرباني دخپل موهوم او خیالي هوس نه ځار کړي ، هغه حه چي په افغانستان کښي دامریکا او روس دتوافق په نتیجه کښي رامنیځ ته کیږي دافغانستان دمسلمانانو په خیر ندي داځکه چي کفري طاقتونه هیڅکله دمسلمانانو په ګټه فیصلي نه کوي .

لکه څنګه چي روسان زمونږ دملت قاتلان او داسلام دښمنان دي او هیڅکله نه غواړي چي په افغانستان کښي اسلامي نظام جوړ شي امریکا هم په افغانستان کښي اسلامي حکومت نه غواړي اوکه چیري بي په مسلمانانو زړه خوږیږي نو دفلسطین په مسلمانانو دي ظلم بند کړي او بیت المقدس دي بیرته مسلمانانو ته خوشي کړي .

محترم کشاف دخپلو خبرو په پاي کښي حاضرینو ته داتوصیه وکړه چي زمونږ جهاد اوس دبريالیتوب په درشل کښي دي او دافغانستان مسلمان اولس ته په کار دي چي لږ مقاومت وکړي او لږ له صبر نه کار واخلي انشاء الله چي ورووستي بريالیتوب دصابرینو په برخه دي .

دغونډي په ورووستي برخه کښي دغونډي برخه والو ته داتحاد اسلامي افغانستان دعضویت کارتونه ددعوت اوارشاد درئیس محترم قیام الدین کشاف لخوا وویشل شول او غونډه په دولس نیمو بجو ددوعایي په لوستلو سره پاي ته ورسیده .

ایاچین په دکمونیزم ...

په اقتصادی لحاظ هم ګورو چه د چین اقتصاد نظرروسانوته ډیرکمزوری او وروسته پاتی دی داځکه چی چین نظر روسیی ته په کمه پیمانه زراعتی ځمکی کانونه ، اوملی شتمنی لری چه نشی کولای د ضرورت په وخت کی ورځنی ګار واخلی اوکه بیاتی ولر ي نورروسانوته ئی څه په درد وخوړل چه چینایانوته به بی ملی شتمنی په در وخوری او اقتصادی زخمونه به بی پری ښه شی . سره لدی چه چین په نړیوال ډګرکی یوصنعتی هیواد دی خویه هغه هیواد « چین » کی د خلکو اقتصادی وضع د دریمی نړۍ له اوسیدونکو نه هم دومره کمزوری ده چه نشی کولی د ژوندانه هغه ضروری شیان چه دیوه انسان د متوسط ژوند لپاره ضروری وی له بازارنه راونیسی اوخپل ضرورت پری رفع کړی ، همداشان په چین کی د کارګرانو د کار اندازه نظر معاشونو ته ډیره زیاته ده اوهغه ځکه چی چینائی کارګران مجبوردی په زیاته اندازه کار وکړی ترڅو یوه مړیه ډوډۍ پیداکړی او خپل ژوند پری د مرګ د ترخی څپېړی نه وژغوری .

ښه داسی یوه هیواد ته به څنګه کمونیستی هیواد ووایو چه له یوی خوانځان د کارګرانو اوبزګرانو بادار بولی اوله بلی خوا بیاهمدا کارګران اوبزګران په ډیری بی رحمی سره استعماروی او حقوق ئی د خوټنو په خیټه کی ولیری اولدی چناپاتو سره بیاهم په نړیواله سطحه به چینائی ایهران دا ناری هم وهی چی چین په د کمونیزم دیوه قوی سنګر په حیث پاتی وی اود بزګرانو اوکارګرانو له حقوقونه به په ملی او بین اللللی سویه دفاع کوی .

د چینائی کمونیستانو پورته ذکرشوی ادعاګانی ځکه د خندا وړدی چی تراوسه ئی لا د خپلو کارګرانو اوبزګرانو په حال هم رحم ندی کړی اودهغوی په حقوقو بی خپل دیکتاتوری رژیم ته د بقا چانس برابرکړی نوپه جهانی سطحه به څنګه وشی کولی چه د کارګرانو پام د ځان په لور راواړوی اوورته به دښه ژوند اوعادلانه ټولنی وعده ورکړی ، په هرصورت نن که چینایان هرڅه وایی هغه به وایی خوښه به داوی چې د روسی کمونیستانو له سرنوشت نه د عبرت درس واخلی اوژرترژره په چین کی کمونیستی نظام رنګ او په ځای یی یو عادلانه نظام اوټولنه رامینځ ته کړی ، اوکه داسی ونکړی نو په چین کی به د کمونیزم مستقبل هم هغه وی لکه چی نن په روسیه کی دی اوهغه ځکه چی چینائی ولس به هم لکه روسان چی نن د لینن !! په جسدونو لویی کوی اویه غاړه کی ئی پړی اچوی اویه بازارو ، کوڅو اوچوکونو کی بی راکاږی د ماؤسی تونګ د جسد په غاړه کی پړی واچوی اوچینائی کمونیستان به د محاسبی میدان ته راکش کړی .

په اجتماعی لحاظ هم چین ځکه د کمونیزم د وروستنی سنګر په حیث نشی پاتی کیدای چه نفوس ئی نظر روسانوته زیات اواجتماعی معضلی بی مخ په زیاتیدو دی اود ا واضح خبره ده که په یوه هیواد کی د نفوسو ښه خسمانه « ښه ترېیه ، ښه تداوی ، اوښه پالنه » وشی په همغه اندازه دیوی ټولنی په ترقی مثبت اثر لری اوکه برعکس دنفوسوښه تربیه ، ښه تداوی اوښه پالنه ونشی نو په هغه صورت کی اجتماعی فسادونه پیدا کیږی اوټولنه د تباهی خواته دروهی اودولتونه هم دداسی ناروغیو د اجتماعی ناروغیو مخه نشی نیولی .

اوس نوچین کمونیستانوته کمونیستی نظام د یوه داسی زندان حیثیت لری چه باندیني نړۍ په هغه زندان کی (د چین په کمونیستی رژیم کی) په بشری حقوقو د تیری اوتجاوز هیڅ اندازه نشی لګولی نوځکه نن چینائی ولس خپلی سترګی د یوه روښانه مستقبل په لور په هغه د کمونیستی نظام ړنګولو او دیوی عادلانه ټولنی رامینځ ته کیدل دی نیولی ، انشاء الله هغه ورځ هم لیری نه ده بلکه د افغانانو د جهادی پاڅون له برکته دومره نژدی شوی ده چه ډیر ژر به په چین کی هم لکه د روس په شان د کمونیستانو خونړی ټغر راټول شی او ټولو چینایانو ته به یوه آرامه او آزاده فضا کی ژوند تیرکړی.

دګوډاګی رژیم یوه پوسته ویجاړه او دهغی شپږتنه ساتونکی ووژل شول

میډیا ته دکندز ولایت نه ریوټ ورکړل شوي چي : مجاهدینو دعقرب په ۲۹ نیټه دنوموړي ولایت دښار په ختیځه برخه کي دخواجه غلتان دسیمي پر پوسټوبرید وکړ چي دهغه په نتیجه کښي دکابل رژیم دقواو یوه پوسته ویجاړه ، شپږ تنه عسکر اوملیشه مړه ، یو شمیر نوریې ټپیان شوي او پاتي ګوډاګیان په تیښته بريالي شوي دي .

ریوټ زیاتوي چي مجاهدینو پدي جګړه کښي درژیم له قواؤ نه ۹ میله ووړ وړ سپکي وسلي دیوي اندازي مهماتو سره په ولجه نیولي دي .

دخبرځاي دریوټ لـه مخي درژیم توپچي قواؤ له مجاهدینو څخه دغچ اخیستلو په غرض په نوموړي سیمه کښي دخلکو پرکورونو او دمجاهدینو پر سنګرونو سختي ډزي وکړي چي دهغي په اثر یو شمیر کلیوال شهیدان ، داوسیدو یوشمیر کورونه ویجاړ اوهم دخلکو کروندو ته سخت زیان رسیدلي دي .

مخالفـت مسلمانان با تجـزیهء جمهـوري « بو سني هرزگویـن » یوگوسلاویا

مسلمانان ساکن بوسني وهرزگوین یوگوسلاویا بابرگزاري ریفراندم درمیان جمعیت صرب این جمهوري مخالف هستند و آنرا غیر قانوني ودر راستاي سیاست هاي صربستان براي ایجاد یك « صربستان بزرگ » میدانند حزب مسلمانان یوگوسلاویا که مرکز اصلي آن در بوسنا هرزگوین است هدف صربها ازبرگزاري این ریفراندم را تخریب روابط صرب ها (۳۲درصد نفوس) «۱۸ درصد نفوس » و مسلمانان « ٤٤ درصد نفوس » دراین جمهـوري اعـلام کرد .

این ریفراندم که به معني تقسیم بوسنا هرزگوین « در راستاي تمایلات قومي است بخصوص با مخالـفت مسلمانان که حفظ حاکمیت وتمامیت این جمهوري را ضرور میدانند ، روبر است .

دشوروی په زړه کښي ...

دچچنیانو اجتماعي او دیني وضـــع

مسلمانان دچچن اینګوش دجمهوریت ۹۰ فیصده تشکیلوي اواکثر احنفي مذهبه دي . په ۱۸۳۷ میلادي کال کښي ۳۱ جوماتونه په چچنیاکښي موجود ؤ اوپه ۱۹۳۰ میلادي کال کښي دجوماتونو شمیرلـه دینه هم زیات اټکل شوي او داپه ګوته کوي چي په دغه وخت کښي دغې سیمه کښي ۲٦۷۵ جوماتونه اومصلي ګاني ، ۱٤۰ دیني مدرسي او ۸۵۰ دیني علماً موجود ؤ . په ۱۹۷۸ میلادي کال کښي چي کله چچنیان اواینګوشیان تبعید کراي شول ، روسانو دهغوي ټول جوماتونه او دیني مرکزونه وتړل . په همدغه کال کښي یوازي دوه جوماتونه دعبادت له پاره پرانستل شول . چچنیان د داغستان او شمالي قفقاز ددیني مرکز - چي په « مخاچ قلعه » کښي موقعیت لري - دنظارت په حوزه کښي شامل دي . دتصوف تحریك له ډیروخت نه رایدیخوا په قفقاز کښي زیات نفوذ درلودلي دي . په اوس وخت کښي ډیره فعاله ډله د قادریي له فرقي څخه د « کونتاجي » په نامه ډله ده چي په ۱۸٦۲ میلادي کال کښي مینځ ته راغله . اکثره چچنیان او اینګوشیان په کرنه او حیواناتو په پالنه او روزنه بوخت دي خو یوشمیر یي دګروزني په صنعتي کارخانو کښي هم کارکوي . دهغوي دژوندانه معیار دشوروي دنورو قومونو سره برابردي . د اوسنیو معلوماتو پربنسټ د چچن اینګوش دجمهوریت ټول مسلمان خلك باسواده دي او هیڅ بیسواده فرد په دغه جمهوریت کښي نشته . «مصدر»

کښي یوازني قانوني ارګان دي اوو سله والو کسانو ته یي دستور ورکړ چي داکتوبر تر لسمي نیټي پوري دي خپلي وسلي تحویل کړي خو دوداېف دغه قرارداد رد کړ اوهغه یي دخپل جمهوریت پرضد دجګړي اعلان وګڼه .

دچچن اینګوش مسلمانانو هم ددودایف په ملاتړ پراخي مظاهري په لاره واچولي او دروسیي له فدراسیون څخه ددغه جمهوریت داستقلال غوښتونکي شول .

دروسیي دفدراسیون جمهوري رئیس دمسلمانانو ددغه قیام دځپلو له پاره په زورګونه امنیتي عسکر دغه جمهوریت ته راولیږل خو دمسلمانانو پاڅون همغه شان دوام درلود . په همدي حال کښي داکتوبر په ۲۱ نیټه دیراودا وږځپاڼي د دودایف دیوي مرکي دخپرولو په ترځ کښي دودایف داسي یوکس معرفي کړ چي اوس دچچن اینګوش په جمهوریت کښي واقعي قدرت په لاس کښي لري .

ویل کیږي ددغه جمهوریت مسلمانان دیو اسلامي حکومت دجوړیدو غوښتنه کوي تر څو دهغوي ددیني اوملي هویت داعادي له پاره الميزمي اقدامات ترسره کړي . دروسیي دفدراسیون دجمهور رئیس معاون دمسکو په تلویزیون کښي اعتراف وکړ چي ددغه جمهوریت خلك قصد لري چي اسلامي حکومت جوړ کړي اوپه دغه لارکښي له وژل کیدونه هم ویره نلري . دغه حرکت په جوماتونو کښي طرحه کیږي او موږ په پرېښودو چي دروسیي په خاوره کښي دریم قره باغ جوړ شي » .

همدا لامل ؤ چي ددغه جمهوریت مسلمانانو خلکو داکتوبر په ۲٤ نیټه په عمومي انتخاباتو کښي برخه واخیسته او « دودایف » یي دچچن دلومړي جمهور رئیس په توګه انتخاب کړ .

پورتني عکس دچچن اینګوش دمسلمانانو په داسي حال کښي ښيي چي له استقلال نه وروسته یي دشوروي سور بیرغ کوزکړي او خپل بیرغ یي دجمهوریت او شوروي درلودونکی دی ، پورته کړی دی

له مسکونه راغلي فیصلي نه منو داسلامی حکومت تر جوړیدو پوري به خپل وسله وال جهاد ته دوام ورکوو

وحدت ورځپاڼه- دنوامبر ۲٤

دپکتیا ولایت داېن مسعود دغلتو مجاهـدینو اوقـوماندانانـوته داتحاداسلامی افغانستان قوماندان خلیل احمد مسعود ویلی دی چی دروس اوامریکا دنوی موافقتنامی نه وروسته داخبره په ډاګه شوه چي دوی په افغانستان کښی دیو سوچه اسلامی حکومت داقامی طرفداران ندی اود یوسازش پـه ذریـعه دافغانستان په مسلمان اولس باندی یوداسی حکومت تپل غواړی چی غیر قانونی اوغیر اسلامـی وی .

ده وویل چی زمونږ مجاهد مشر استاد عبدرب الرسول سیاف ددی هرڅه پرخلاف ښه ویښ اوبیداردی .

ده زیاته کړه چی مونږ به دافغانانو دراتلونکی له پاره دماسکونه راغلی فیصلی هیڅکله قبولی نکړو او روس ته به په افغانستان کښی دمداخلی اجازه ورنکړو اومونږ به خپل جهاد ته ترهغی پوری دوام ورکړو ترڅوچی په افغانستان کښی یوسوچه اسلامی حکومت نـه وی قـایـم شـوی .

یك عضو شوراي

پاکستان و کارداران سفارت پاکستان ، عده، زیادي ازمقامات عالیرتبه، اتحاد شوروي و فیدراسیون روسیه اشتراك ورزیده و همه شاهداین صحنه بودند .

اسم نامبرده ازهمان شب به (انور) مبدل گردید و ازطرف هیئت مجاهدین یك جلد قرآنکریم که بزبان روسي ترجمه شده معه، یك تخته جاي نماز ، مقداري خرما و بعضي هداياي دیگر به وي داده شد .

ولسوالي دولت آباد ...

میشود تاکنون (۳۰) تن ازمجاهدین شهید (۲۰۰) تن زخمي گردیده و تلفات قواي دشمن مهاجم چندین برابررقـم تلفـات مجاهـدین خوانده شده است .

همچنان دوجیت درجریان بمباران هدف دافع هواي مجاهدین ، که ازدشمن غنیمت گرفته شده قرارگرفته ساقط گردیده است .

همچنان یك منبع جهادي ازولسوالي دولت آباد گزارش میدهد که جنگ شدیدي بین قواي رژیم کابل ومجاهدین که ازپنج روز بیش آغاز شده ، به شدت ادامه داشته و تلفات هردو جانب سنگین است .

بقرار راپور قواي بزرگ رژیم مزدور که در آغاز حمله بداخل ولسوالي نفوذ کرده بود ، با قبول تلفات سنگین عقب زده شده و ازتاریخ ۷ نومبر تاکنون ولسوالي مذکور کاملاً بدست مجاهدین مي باشد .

راپور مي افزاید دربرخوردهاي تاریخي ۲۲ نومبر (۹۵) نفرازافراد دشمن هلاك و(۱۵۰) نفردیگر مجروح شده اند که اجساد کشته شدگان هنوزهم بهرسو پراگنده است .

طبق راپور ، قواي مهاجم اکنون ازولسوالي دولت آباد کاملاً بیرون کشیده شده ولي حملات هوائي و آتش توپخانه دشمن برمواضع مجاهدین ادامه دارد .

په کندزولایت ...

دخبر مطابق دملیشه ؤ نوموړي مشر پدي چاودنه کښي چي دمجاهدینو دیو ارتباطي سړي لخوا ددغه ولایت په بالا حصارکي ترسره شوي وه ، لومړي سخت ټپي او وروسته په امبولانس کښي روغتون ته دوړلو په وخت کښي په هلاکت ورسیده .

خبر زیاتوي چي پدي پیښه کښي دنوموړي د سپرلـي موټر له مینځه تللي او ور سره دده څو تنه ساتونکي هم وژل شویدي .

دریوټ له مخي دملیشه ؤ ددغه قوماندان چي جنرالي درجه ئي درلوده په وژل کیدو سره پدغه ولایت کښي درژیم د منسوبینو په مینځ کښي سخته ویره پیدا شوي او درژیم په پلویانو کي دیو اوبل په نسبت بي اعتمادي مخ په زیاتیدو ده .

بلغ ولایت کښی...

خبر ځاي زیاتوي چي مجاهدینو د بلغ ولایت کي مزدورو قواؤ ته ددرانه زیان په اړولو سره دښایوزیو سیمه له اجیرو قواؤ څخه آزاده کړي ده .

دریوټ مطابق مجاهدینو په دي حمله کي دکمونیستي رژیم دقواؤنه یو میل زیکویك دوه آر، پي ، جي اوه راکټي (٤٥) میله کلاشینکوفونه او یو ګاز موټر دیوي اندازي نظامي او لوژستیکي موادو سره په غنیمت نیولي اود سیمي وګړو خپل آزاد اسلامي ژوند یو ځل بیاله سره پیل کړیدي .

محترم انجنیر ...

زماني پست صدراعظم را در دوران سرکارئو بعهده داشت دیدار و ملاقات نموده و پیرامون دعوت اسلامي مطالب بیان داشتند و هم چنان ایشان حزب محمدیه که فعالیت و نشاط قابل ملاحظه درین کشور داشته است ملاقات انجام دادند .

د نوم بدلول

رازکل دعمـرکل ځوی دسمنګانو دولایت د مرکز اوسیدونکی په قوم حسن خیل د اتحاداسلامی دلیسی دلسم « ط » ټولګی زده کوونکی فعلاً د ارهنوو خوړ په (۳) نمبر کمپ کښي هستوکن دی غواړی چه خپل پخوانی نوم په شفیق الله «شفیق» تبدیل کړی ، له ټولو دوستانو اوخپلوانو څخه یی هیله کیږی چه نوموړی ورور له دی وروسته دشفیق الله «شفیق» په نوم وپیژنی .

پتـــــه :
پینبور - پاکـســتـان
P.O.BOX---- 467